((په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي))

دریمه ماده / اساسي قانون / کال ۱۳۸۲ هـ ل

# په افغانستان کې

# د اساسي قانون اړتیا

## او د افغانستان د اساسي قوانینو پرتله د اسلامي احکامو په انځور کې

مولف: دکتور محمد ظریف علم (ستانکزی)

کال ۱۴۰۱ هـ ل

**حامد رسالت خپرندویه ټولنه**

**آدرس: کابل- چهارراهی انصاری- نبش سرک اول کلوله پشته**

**دویم آدرس: کابل – دهمزنگ- مرکز کتابفروشان کابل**

**د اړیکې شمیرې: ۰۷۷۷۵۹۰۵۴۵ /۰۷۰۰۵۹۰۵۴۵**

**برېښنالیک:hamidrasalat@yahoo.com**

د چاپ او خپراوي ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

## د کتاب پیژندنه

د کتاب عنوان: په افغانستان کې د اساسي قانون اړتیا

تألیف: دکتور محمدظریف علم (ستانکزی)

خپرندوی: حامد رسالت خپرندویه ټولنه

کتاب ډیزاین: محمدجواد مبارز

د چاپ وار: لمړی

د چاپ نیټه: ۱٤۰۱ هـ ش

شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

بیه: ( ) افغانۍ

بسم الله الرحمن الرحيم

((دين د افغانستان، پاک دين د اسلام او رسمي او عمومي مذهب د افغانستان پاک مذهب د حنفي دی))

دويمه ماده اساسي نظامنامه – کال ۱۳۰۲ هـ ل / لومړی اصل اساسي اصولنامه - کال ۱۳۱۰ هـ ل / دويمه ماده اساسي قانون – کال ۱۳٤۳ هـ ل دوه ويشتمه ماده اساسي قانون – ۱۳۵۵ هـ ل / دويمه ماده اساسي قانون – کال ۱۳٦٦ هـ ل/ دويمه ماده اساسي قانون – کال ۱۳۸۲ هـ ل

((په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپيڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي))

څلور شپيتمه ماده اساسي قانون – کال ۱۳٤۳ هـ ل / دريمه ماده اساسي قانون – کال ۱۳۸۲ هـ ل

((په عدليه محکمو کې ټوله عرضونه، دادونه سم له شريعته سره په قاعده د حقوقي او جزايي محکمو فيصله کيږي))

پنځمه ماده اساسي نظامنامه – کال ۱۳۰۲ هـ ل

((په شرعي محکمو کې ورغلي دعواوي سم له مقرراتو د پاک مذهب حنفی "رح" سره فيصله کيږي))

اته اتياوم اصل اساسي اصولنامه – کال ۱۳۱۰ هـ ل

((محکمې تر غور لاندې قضاياوو کې د دې اساسي قانون او نورو قوانينو حکمونه تطبيقوي، که د غور لاندې قضاياوو له جملې څخه د کومې قضيې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقه د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون قانون ټاکلي، قضيه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډيره ښه توګه تامين کړي))

يو سلو دويمه ماده اساسی قانون – کال ۱۳٤۳ هـ ل / يوسلو دولسمه ماده – اساسي قانون کال ۱۳٦٦ هـ ل / يو سلو ديرشمه ماده – اساسي قانون کال ۱۳۸۲ هـ ل

## لیکلړ

**سریزه : ........................................................................ ١**

**لومړی مبحث: عمومیات: ...................................................... ٣**

**لومړی مطلب : د اساسي قانون تعریف او د هغه کلي اصول:....... ٣**

لومړی: د اساسي قانون تعریف:............................................... ٣

دوېیم : د اساسي قانون کلي اصول:........................................ ٤

١- اجرایوي ضمانت (د قانون حاکمیت): .................................. ٥

٢- د دولت سیاسي نظام ډول اصل:......................................... ٨

ا) اسلامي سیاسي نظام:........................................................ ٨

ب) شاهي سیاسي نظام: ........................................................ ٩

ج) جمهوري نظامونه:........................................................ ١١

٣- د دولت ارکان ( مجریه، مقننه او قضاییه قواو ) اصل:.......... ١٣

- په اسلامي سیاسي فقه کې د درې گونو قواو استقلال او توپیر: ..... ١٥

۴- د دولت اداري سازماني جوړښت (اداري نظام) اصل: .......... ۲۱

۵- د اتباعو اساسي حقوق او وجایبو اصل:........................... ۲٤

**دويم مطلب : معاصر فقهې ليدلوري په ټولنه کې د اساسي قانون د انفاذ په اړه:........................................................ ۲۵**

۱- د مديني منورې منشور:................................................ ۲۵

۲- د عباسيانو د خلافت پر وخت د دولتدارۍ مدون مستقل کتابونه: ۲۸

- احکام السلطانية والولايات الدينية د ابوالحسن ماوردي کتاب: .... ۲۹

- احکام السلطانية ابوالحسن محمد بن ابي يعلی کتاب: ................ ۳۱

- د معاصرو فقهاؤو ليدلوري د اساسي قانون د شتون او انفاذ په اړه: ۳۱

**درېيم مطلب: په افغانستان کې د اساسي حقوقو رامنځته کېدو ته يوه ټول کتنه:........................................................ ۳٦**

**دويم مبحث:د افغانستان اساسي قوانين د اسلامي احکامو په انځور کې........................................................ ٤۱**

**لومړی مطلب : تقنيني قواعد:.................................... ٤۳**

۱- الهي قوانين.......................................................... ٤٤

- اسلامي حقوق:........................................................................ ٤٦
- د اسلامي حقوقو سرچینې او مصادر: ........................................ ٤٩
- د مکلفینو په اقوالو او افعالو پورې اړوند حقوقي شرعي احکام: ... ٥٢
١- د کورني احکام: ............................................................ ٥٣
٢- د قضاء احکام:............................................................... ٥٤
٣- د جرمونو او سزاګانو احکام:............................................. ٥٦
۴- د دولت د سیاسي نظام احکام:........................................... ٥٩
۵- له نورو دولتونو سره د تعامل احکام: .................................. ٦١
٦- اقتصادي احکام: ............................................................ ٦٣
- د اسلامي شریعت مقاصد:..................................................... ٦٦
٢- وضعي قوانین:................................................................ ٦٩
دویم مطلب: په افغانستان کې د تقنیني اسنادو ډولونه او د هغو تعریف:٧١
لومړی: قانون: ..................................................................... ٧٢
١ - د قانون تعریف: ............................................................. ٧٣
٢ - په افغانستان کې د قانون سرچینې:.......................................... ٧٣

٣ . قوانين او ډولونه يې: ........................................................ ٧٥

ا) اساسي قانون: ................................................................ ٧٦

ب) فرعي قوانين: ................................................................ ٧٦

١ - ارگانيک قوانين: ............................................................ ٧٧

٢ - عادي قوانين: ................................................................ ٧٩

- متني قوانين: ................................................................. ٧٩

- شکلي قوانين: ................................................................ ٨٠

دويم: تقنيني فرمانونه: ........................................................... ٨٢

دريیم: مقررې .................................................................... ٨٢

څلورم: اساسنامې ................................................................ ٨٤

پنځم: د کابينې مصوبې چې تقنيني جنبه ولري ................................. ٨٥

- د تقنيني اسنادو طی مراحل .................................................. ٨٥

**دريیم مبحث: د افغانستان د اساسي قوانينو د ځينو مادو تاصيل په اسلامي شريعت کې: ........................................................ ٨٥**

**لومړی مطلب: د مدونو قوانينو سرچينې تاصيل: ..................... ٩١**

**دوم مطلب: د اتباعو د اساسي حقوقو تاصیل:........................ ۹۵**

۱- د افغانستان د وګړو د برابرۍ ( مساواتو) حقوقو تاصیل:........... ۹٦

۲- د افغانستان د وګړو د آزادۍ او کرامت حق تاصیل:................ ۹۸

۳- د استوګنځي د محرمیت حق تاصیل:................................. ۱۰٤

۴- د زدکړو (تعلیم) حق تاصیل: ................................................ ٦٥

## سريزه :

**الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على خير خلقه محمد و على آله واصحابه اجمعين:**

**((وَنَزَّلْنا عَلَيْكَ الْكِتابَ تِبْياناً لِكُلِّ شَىْءٍ وَهُدىً وَرَحْمَةً وَبُشْرى لِلْمُسْلِمينَ))**

مونږ پر تا (رسول الله ﷺ) دغه کتاب (قرآن) نازل کړي تر څو د هر څه حقيقت روښانه کړي او د مسلمانانو لپاره هدايت کونکی، رحمت او زيری ورکونکی اوسی.

اسلامي شريعت منحيث د يو کامل او آخريني الهي دين بشريت ته نازل شوی ده، چې د انسان د ژوندانه ټول اړخونه (اعتقادي، تعبدي، سياسي، ټولنيز، اقتصادي، حقوقي او...) سمبالوي.

په ټولو حقوقي ځانګړينه کې يو مستقل حقوقی سيستم په اوسنی عصر کې د اسلامي حقوقي سيستم ده چې ډيری ملتونه يې له دې نه چې مسلمانان وي او اسلامي عقيده ولري له دغه سيستم نه متابعت کوي.

په اسلامي شريعت کې مشروع نامشروع اعمال په شرعي نصوصو سره او يا له شرعي نصوصو نه په استنباط سره د مجتهدينو له خوا څرګند او واضح شوی دی.

د اسلامي شريعت ځانګړتيا دا ده چې په ټولو وختونو او زمانو کې د هغه احکام د تطبيق وړ دي که هغه اوسنی زمانه او وخت هم وي، لکه

ځرنګه چې په اوسنۍ زمانه کې د فتوا مراجع په اسلامي نړۍ کې په بېلابېلو مسايلو خپلې فتواوې صادروي.

زمونږ دغه بحث **(په افغانستان کې د اساسي قانون اړيتا او د افغانستان د اساسي قوانينو پرتله د اسلامي احکامو په انځور کې)** دی.

غواړم په دغه هکله د اسلامي احکامو په رڼا کې او د فقهاوو ليدلورى راونغاړم، تر څو معلومه شي چې د اساسي قانون انفاذ د مسلمانانو په ټولنو، ملتونو او دولتونو کې له اسلامي شريعت سره څه حکم لري، ايا د هغه انفاذ غير مشروع ده او يا د دولت د چارو د سمبالولو لپاره چې د سياسي اسلامي فقهې له احکامو نه په اخيستلو سره مشروعيت لري او د يو دستور او چتر په توګه عمومي سياسي فقهي قواعد په کې درج شی بهتره به وي.

په دغه بحث کې غواړم د ښه وضاحت لپاره لاندې مباحث راونغاړم:

**لومړی مبحث: عموميات**

**دويم مبحث: د افغانستان اساسي قوانين او نور تقنيني اسناد د اسلامي احکامو په انځور کې**

**درېيم مبحث: د افغانستان د اساسي قوانينو د ځينو مادو تاصيل په اسلامي شريعت کې**

# لومړی مبحث

## عمومیات

### لومړی مطلب : د اساسي قانون تعریف او د هغه کلي اصول:

د اساسي قانون تعریف په حقوقي چوکات کې د ځینو قیود پر بنسټ تعریفیږي چې دغه قیود بیا د دغه قانون کلي اصول د هېوادونو د حقوقي او سیاسي سېستمونو پر بنسټ د هغه هېواد په اساسي قانون کې ځانګړی کېږي په دغه اساس د اساسي قانون تعریف او د هغه کلي اصول په لاندې ډول عبارت دي له:

#### لومړی: د اساسي قانون تعریف:

اساسي قانون په قانوني متونو کې له اجرایي ضمانت سره یو ځای د کلي او الزامي حقوقي قواعدو له ټولګې څخه عبارت ده، چې د دولت د سیاسي نظام، د اتباعو د حقوقو او وجایبو، د دولت د درېګونو ارکانو او د هغو د دندو او واکونو، د دولتي ادارو د سازماني جوړښت او په پای کې دمتفرقه او انتقالي احکامو نه بحث کوي.

## دویم : د اساسي قانون کلي اصول:

لکه څرنګه چې د اساسي قانون په تعریف کې ځینې قیود جوت شول نو د هماغو قیودو په رڼا کې د اساسي قانون کلي  اصول او قواعد عبارت دي له:

١- اجرایوي ضانت (د قانون حاکمیت)؛

٢- د دولت سیاسي نظام ډول؛

٣- د دولت ارکان ( مجریه، مقننه او قضاییه قواوې )؛

٤- د دولت اداری سازماني جوړښت (اداري نظام)؛

٥- د اتباعو اساسي حقوق او وجایب.

دغه پورتني اصول په کلي ډول په اساسي قانون کې درج وي خو د دغو حقوقي قواعدو تفصیلات په فرعي قوانینو کې تصریح کیږي، په دغه بحث که اړین بولم تر څو دغه اصول په مختصر ډول مخکې له دې نه چې اساسي مبحث ته داخل شم په لاندې ډول ذکر کړم:

### ۱- اجرايوي ضمانت (د قانون حاکمیت):

په اساسي قوانينو کې د حاکمیت اصل د حکومت لپاره د انارشیزم د منعه کولو لپاره یو اړین اصل دئ هېڅ یو دريې ګوني د دولت قواوې نه شي کولای تر څو خپلې کړنې د قانونیت له چوکات نه بهر اعمال کړي په ځانګړې ډول مجریه قوه چې تنفیذي او اجراییوي واک لري دغه اصل د افغانستان په ټولو اساسي قوانينو کې تصریح شوی ده د بېلګې په ډول د ۱۳۸۲ هـ ل کال اساسي قانون ته په کتو سره چې خپلې (۵۰) مادې د (۲) فقرې د حکم په ترڅ کې داسې تصریح کوي:

(اداره خپل اجراآت په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي).

همدا راز د قانون حاکمیت ظلم او تېري ته اجازه نه ورکوي، د یاد شوي اساسي قانون د (۲۷) مادې د حکم په ترڅ کې ظالمانه او ناعادلانه کړنې جرم ګڼلې او د قانون د حاکمیت د اصل په موخه د جرم او جزا د قانونیت قاعده داسې تصریح کوي:

(هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب د مخه نافذ شوی وي. هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبدای، نیول کېدای او یا توقیفیدای نه شي. هېڅاته سزا نه شي

ورکول کېدای، مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي).

د پورتنۍ مادې تصریح ظلم او تظلم کنټرول کړی دی، ځکه د اساسي قانون دغه ماده د قانونیت د اصل په توګه نه ظلم ته اجازه ورکوي، چې یو کس یې پر بل کس وکړي او نه دا اجازه ورکوي، چې د تظلم مخه ونیول شي، د کوم کس پر ضد چې جرم ترسره کېږي، یعنې هغه که د حقوق الله په جرایمو یا د وګړو پر ضد جرایمو کې وی ټولنه متضرر کوي، مرتکب اشخاص د جرم او جزا د قانونیت د اصل پربنسټ د محکمې د حکم په واسطه د مجازاتو وړ ګڼل کېږي.

له بلې خوا د درېګونو قواوو (مقننه، قضایه او اجرایه) د تفکیک اصل د هرې قوې د واکونو پربنسټ د افغانستان په ډېری اساسي قوانینو کې تسجیل شوی. درې واړه قواوې په اساسي قانون کې داسې تنظیم شوي، چې یوه د بلې په واسطه کنټرولېږي. مقننه قوه اجرایه قوې او قضایه قوې ته د اعتماد رایه ورکوي، د حکومت غړي د ولسي جرګې له خوا سلب اعتماد کېدای شي. ولسي جرګه د سترې محکمې غړي د جنایت د جرم او یا د دندې له مخې د جرم د ارتکاب په صورت کې د ټولو غړو په دوو ثلثونو له دندې عزل او د ځانګړې محکمې په واسطه محاکمه کولای شي. د ملي شورا غړي د جرم د ارتکاب په صورت کې د هغه

مجلس له استيذان او تصويب څخه وروسته چې غړيتوب يې لري، د لويې څارنوالۍ له خوا تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېدای شي او د محکمو له خوا محاکمه کېږي، چې په دغو مواردو کې درې واړه قواوې هر يوه د بلې په واسطه کنټرولېږي.

درې واړه قوو کې هر يوه د خپل واک او دندو په برخه کې سره اړوندې دي.

مقننه قوه قوانين وضعه کوي، اجرايه قوه هغه تطبيقوي، قضايه قوه د قانون پر بنسټ پرېکړې صادروي او بيا هم د اجرايه قوې له خوا تطبيقېږي، چې مقننه او قضايه دواړه قوې دستور ورکوونکې دي؛ مګر اجرايه قوه څرنګه چې له نوم څخه يې ښکاري، اجرا کوونکې ده.

ټول ياد موارد د قانونيت د اصل په واسطه د افغانستان په تېرک شويو اساسي قوانينو کې تصريح شوي دي، پر همدې بنسټ دا ويلی شو، چې د قانون د حاکميت اصل په اساسي قانون کې د اساسي حقوقو له مهمو او ارزښتناکو اصولو څخه يو اصل ګڼل کېږي.

افغانستان کې د ټولو قوانينو مبنا اسلامی شريعت ده، د افغانستان اساسی قوانينو کې دا ماده تسجيل ده چې هېڅ قانون په افغانستان کې له اسلامي شريعت سره په مخالفت کې نه شي وضع کېدلای.

کله چې د قوانینو منبع په افغانستان کې اسلامي شریعت وي نو اسلامي شریعت خو د قانونیت او شریعت د ټینګښت لپاره اصول په شرعي سرچینو کې وضع کړی دی.

### ۲- د دولت سیاسي نظام ډول اصل:

په اوسنۍ نړۍ کې دولتونه له مختلفو سیاسي نظامونه نه پیروي کوي،په دغه برخه کې یو لنډ ذکر د دغو نظامونو په لاندې ډول کوم:

### ا) اسلامي سیاسي نظام:

اسلام په سیاسي نظام کې یو سیاسي مکتب ده او د حکومتولۍ او دولتدارۍ لپاره یې ځانګړې احکام په شرعي نصوصو کې او همدا راز له شرعي نصوصو نه په استخراج سره د مجتهدینو په اجتهاداتو کې شتون لري او په دغه هکله ډېرې سیاسي فقهي کتابونه لیکل شوي دي.

د دغه سیاسي نظام بېلګې د اسلامي نظامونو او خلافتونو په لرغوني اسلامي تاریخ کې شتون او ثبت دي د اسلامي سیاسي نظام سرچینې د اسلامي شریعت احکام دي.

### ب) شاهي سياسي نظام:

دغه سياسي نظام ډېر لرغونی ده چې د تاريخ په بېلابېلو پړاونو کې د ټولنو په منځ کې حاکم وه چې په دوو لاندی ډولونو تقسیمیږي:

#### - مطلقه شاهي سياسي نظام:

دغه سياسي نظام لرغونی ده او په اوسنې عصر کې شتون نه لري، په دغه نظام کې قدرت او صلاحيت متمرکز د شاه په لاس کې وي، د صلاحيتونو نه تفويض حکومت ته چې له صدراعظم (لومړی وزير)، د کابينې وزيرانو او رييسانو نه يې جوړښت وي شتون نه لري، شاه او پاچا ټول صلاحيتونه په مطلق ډول په خپل واک کې لري.

#### - مشروطه شاهي سياسي نظام:

دغه سياسي نظام په عملي ډول معاصر ده او ډېری هېوادونه له هغه نه استفاده کړې ده، د درې ګونې قواو تفکيک (مقننه، قضاييه، مجريه) په دغه سياسي نظام کې شتون لري شاه او پاچا د ذکر شوي درې ګونو قواوو په سر کې وي، حکومت انتخابي او متشکل له کابينې وي، وروسته له يوې مودې نه چې په اساسي قانون کې ځانګړی شوی وي پخوانی حکومت تغير او نوی حکومت يې ځای نيسی، د حکومت په سر کې صدراعظم (لومړی وزير) او يا ولسمشر موجود وي په بېلابېلو

لارو چې د هېوادونو په اساسي قانون کې ځانګړی شوی وي د یو ځانګړي وخت لپاره تعینیږي.

د لومړی ځل لپاره د بشریت په تاریخ کې د مشروطه شاهي نظام لیدلوری د افلاطون او ارسطو له خوا په لرغوني یونان کې را منځته شو چې د ولسي جرګې، مشرانو جرګې او امپراتور تر منځ د واکونو د وېش لیدلور یې رامنځته کړلو، چې وروسته په ۱۷ زیږدیزی پیړۍ کې دغه لیدلوري عملي جنبه کروموېل (Cromwel) په اساسي قانون کې تصریح کړه ، چې د درې ګوني قواوو توپیر او واکونه په کې درج شوي و.

همدا راز جان لاک (John Lock) په خپل کتاب کې ( مدني حکومت ) تر عنوان لاندې په ۱۶۹۰ زیږدیز کال کې د دولت د قواو توپیر او واکونه یې لیکلي و.[۱]

[۱] - د. بشناق باسم صبحی، مجلة الجامعة الاسلامية، ج ۲۱ شماره ۱، الفصل بین السلطات في النظام السیاسي الاسلامی – دراسة تحلیلیة في ضوء نظریة الفصل بین السلطات في القانون الوضعي ص ۶۰۴ ـ۶۰۵

## ج) جمهوري نظامونه:

دغه نظامونه په معاصر دوول ډېر ملکونه ورنه ګټه اخلي او خپل نظامونه ورباندې سمبالوي.

په دغو نظامونو کې مختلط جمهوري رياست او لومړي وزير څوکۍ شتون لري خو د يادونې وړ ده چې د حکومت واکونه له لومړي وزير سره وي او ولسمشر سمبوليک او محدود نقش په حکومت کې لري چې دغه نظامونو ته پارلماني نظامونه ويل کېږي او حکومت سره له لومړي وزير، پارلمان کې هغه احزاب تعينوي چې ډېرى څوکۍ يې پارلمان کې په ټاکنو کې لاس ته راوړي وي، او يا نور احزاب له هغه حزب سره چې په پارلمان کې ډېرى څوکۍ ولري ايتلاف وکړي او د حکومت په جوړښت او د حکومت د څوکيو د وېش په هکله سره جوړ شي.

په بل تعبير جمهوري نظامونو کې ولسمشر (جمهور رييس) د درېوګونو قواوو په سر کې شتون لري او حکومت (کابينه) او صدراعظم (لومړى وزير) هم ده هغه د اثر لاندې وي، لومړى وزير د کابينې ناستې رهبري کوي او په ټوله کې مجريه قوه چې حکومت د هغه جزء ده، ولسمشر ته مسئول او جواب ورکونکى وي.

په جمهوري نظامونو کې درېيم دوول هم شتون لري چې هغه يوازې

ولسمشر يې رهبري کوي چې د درې گونو قواو په سر کې شتون لري او لومړی وزير په نظام کې شتون نه لري.

د يادونې وړ ده چې افغانستان دغه ټول پورتني نظامونه د تاريخ په بېلابېلو پړاونو کې عملي کړي دي، د بېلگې په ډول مخکې له پاچا امان الله خان نه مطلقه شاهي نظامونه په افغانستان کې حاکم وه، وروسته کرار کرار زمينه مشروطه شاهي ته مساعده شوه چې په ۱۳۴۳ هـ ل کال کې په رسمي او عملي ډول مشروطه شاهي نظام بغير له شاهي کورنۍ نه صدراعظم (لومړي وزير) د شاه له خوا او کابينه د ملي شورى له خوا وټاکل شوه، قضاييه، مقننه او مجريه قواوې خپل ځانگړي واکونه له اساسي قانون نه په الهام سره لاسته راوړل او د درې گونو قواو د واکونو د تفکيک اصل په معاصر اساسي حقوقي کې د افغانستان په اساسي قانون کې درج شول.

د جموريت نظام وروسته د شاهي نظام له ړنگېدو په ۱۳۵۲ هـ ل کال کې د سردار محمد داود خان په جمهوريت کې رامنځ ته شو.

د جمهوريت او صدارت مختلط نظام له ۱۳۵۷ هـ ل کال د جمهوري دموکراتيک نظام کې منځته راغي چې تر ۱۳۷۱ هـ ل کال پورې دوام وموند.

د مجاهدينو حکومت هم د جمهوريت او صدارت نظام تجربه کړلو.

د طالبانو لومړي ځل حاکمېدل مشروطه نسبي شاهي ته ورته نظام د امارت تر عنوان لاندې خپل حکومت کاوه او د امارت اسلامي سياسي اصطلاحي ورته استعمالوله.

له ۱۳۸۲ هـ ل کال نه وروسته د جمهوريت نظام بيا تجربه شو چې ولسمشر د درې ګونو قواو په سر کې و.

### ۳- د دولت ارکان ( مجريه، مقننه او قضاييه قواو ) اصل:

د اساسي قانون يو له اصولو نه په معاصرو دولتونو کې د درې ګونو ارکانو او قواو شتون او تفکيک ده چې عبارت دي له:

- **مجريه قوه:**

د دغه رکن لوی او ستر سازماني او اداري څانګه حکومت ده چې د کابينې له وزيرانو نه تشکليږي او ټول اجراييوي صلاحيتونه لري چې د دوو نورو ارکانو په پرتله ډېر فعاله ده.

مقننه قوه قوانين تصويبوي چې مجريه قوه يې د تطبيق دنده لري.

قضاييه قوه د خصومات او منازعاتو پرېکړې صادروي چې د دغو قطعيي

او نهايي پريکړو د پيلي کېدو دنده د مجريه قوې له دندو شمېرل کېږي.

- مقننه قوه:

لکه څرنگه چې له نوم نه يې جوتيږي د قانون جوړونې دنده پر غاړه لري چې يو مهم او اړينه دنده د مقننه قوې شمېرل کېږي، همدا راز مقننه قوه چې په پارلمان او يا په افغانستان کې په ملي شورا مصطلح يادېږي، د هغه ولسي جرگه، حکومت ته (وزيرانو، ځينې عمومي مستقل رييسانو ته) د باور رايه ورکولو او د هغو استجواب، استيضاح او سلب اعتماد دنده او واک لري، همدا راز د قضاييه قوې غړو ته هم ولسي جرگه دنده او واک لري تر څو د اعتماد رايه ورکړي، او داسې نورې مشخصې دندې او واکونه چې د افغانستان په بېلابېلو اساسي قوانينو کې په تفاوت سره ذکر شوي دي.

مقننه قوه په هېوادونو کې د بېلابېلو دندو او واکونو خاوندان وي چې په ځانگړي ډول د دغو هېوادونو په اساسي قوانينو کې د هغو دندې او واکونه ځانگړي شوي وي، همدا راز د مقننه قوې خونې په دوو خونو او يا يوې خونې وېشل شوي دي چې د دو خونو (دوه اتاقه) او يو خونې (يو اتاقه) پارلمانونو په نوم يادييږي په افغانستان کې د دوو خونو سېستم مقننه قوه (ملي شورا) شتون درلود چې په ولسي جرگه او مشرانو

جرگه په اساسي قوانينو کې ياد شوي دي.

## - قضاييه قوه:

قضاييه قوه هغه قوه ده چې په ټولنه کې د اشخاصو تر منځ د منازعاتو او مخاصماتو (شخړو ) فيصلو واک او همدا راز د قوانينو د تفسير او د هغو د سمون له اساسي قانون سره لري.

## - په اسلامي سياسي فقه کې د درې گونو قواو استقلال او توپير:

اسلامي فقهاء په دغه سره موافق دي چې په اسلامي شريعت کې سياسي نظام يو لړ خصوصيات او ځانگړتياوې لري چې د هغه ځانگړتياوې دغه سياسي نظام له وضعي سياسي نظام سره توپيروي او علت هم دا گڼي چې مصدر د حکم او سرچينه په اسلامي سياسی نظام کې الله تبارک و تعالی ده.

د درې گونو قواو اصل او تفکيک په اسلامي شريعت کې په لاندې ځو کرښو کې توضيح کوم:

## - شورا په اسلامي شریعت کې:

مقننه قوه په معاصر عصر کې دولتونو کې د تشریع او تقنین دنده لري چې په اسلامي سیاسی نظام کې د شورا تر عنوان لاندې رامنځته کېږي، د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې چې وروسته به یې ذکر وشي د شورا تر عنوان لاندې د اسلامي شریعت په اصطلاح سره دغه قوه نومول شوی ده.

په اسلامي شریعت کې تشریع او تقنین په دوو ډولونو او معناوو سره د بحث لاندې ده ( مبتدا د تقنین حکم او د تقنین بیانولو حکم چې اسلامي شریعت تقاضا کوي او په هغه شرعي حکم ولاړ وي.)[۲]

۱- په لومړۍ معنا سره چې مبتدا د تقنین حکم وي په دغه حالت کې تقنین د اسلامي شریعت له حکمونو سره سم د بشر لپاره د تقنین او تشریع اجازه نشته.

چې هغه احکام په اسلامي شریعت کې د اصول فقه د علم له قواعدو سره سم قطعي الثبوت او قطعي الدلالت شرعي نصوص (قرآن او حدیث) احکام دي.

[۲] - مجلة الجامعة الاسلامیة، ج ۲۱ شماره ۱، الفصل بین السلطات في النظام السیاسي الاسلامی – دراسة تحلیلیة في ضوء نظریة الفصل بین السلطات في القانون الوضعي ص ۶۱۱

۲- لیکن تشریع په دویمه معنا سره بیان د حکم  چې اسلامي شریعت تقاضا کوي او په شرعي حکم ولاړ وي چې دغه حالت کې د اجتهاد او فتوا د هغو د اهل کسانو لپاره دروازه پرانیستل کېږي چې هغه اجتهادي مسایل د اسلامي شریعت په هغو احکامو کې وي چې د اصول فقه د علم له احکامو سره سم قطعي الثبوت ظني الدلالت شرعی نصوص وي اسلامي مجتهدین له هغه نه شرعي احکام را استنباطوي، چې دغه اجتهادات د عصر، محل، عرف سره کېدای شي په تغیر کې اوسي لکه د امام شافعي رحمه الله اجتهادات دوه ډوله دي کله چې مبارک په بغداد کې وه نو یو قسم اجتهاد کړی و، او کله چې مصر ته ولاړ بل قسم اجتهاد کړی و، چې د فقه په کتابونو کې د پخوانی مذهب او نوی مذهب تر عنوان لاندې په شافعی مذهب کې یادېږی.

بناء په اسلامي سیاسي فقه کې د تشریع او تقنین دروازه پرانیستې ده چې شورا له هغو منتخبو اشخاصو نه چې د فن او تخصص له شرایطو سره په انتخابي ډول او یا په انتسابي ډول د دغې شورا غړي وي په پورتنۍ ذکر شوې دویمه برخه کې د تقنین او تشریع واک د اسلامي اصولو پر بنسټ او د مجتهدینو له نظریاتو سره سم وضع کړی، او همدا راز په دغه اړه د اسلامي شریعت له دوو لومړیو منابعو څخه (قرآن او سنت) په پیروي سره اجماع، قیاس، استحسان، سدالزراع، مصالح

مرسله، عرف، شرایع من قبلنا نه په ګتې اخیستنې مدون قوانین وضع کړي.

## - قضاییه قوه په اسلامي شریعت کې:

په اسلامي شریعت کې قضاییه قوه یو باصلاحیت ارګان دی چې په نبوي احادیثو کې د یو مستقل کتاب او باب تر عنوان لاندې د هغه بحث ذکر شوی ده او همدا راز په اسلامي فقه کې د قضاء تر عنوان لاندې یو مفصل بحث په ځانګړی کتاب، باب او یا فصل کې ذکر شوی دی.

د حضرت محمد ﷺ په وخت کې په خپله رسول ﷺ دغه دنده پر مخ وړله کله چې اسلامي دولت پراخ شو او نورې ځمکې او ملتونه یې اسلام ته دعوت او مسلمان کړل نو آنحضرت ﷺ د قضایي صلاحیت تفویض په لومړي ځل علي کرم الله وجهه ته چې یمن ته یې د قاضي په حیث استولی و او بیا معاذ بن جبل رضی الله عنه چې هغه یې هم یمن ته د قضاء لپاره استولی و، د قضاء واک دغو دواړو اصحابو ته په مستقل ډول ورسپارلی و.

د راشیدینو خلفاء په وخت کې د عمر رضی الله عنه په خلافت کې د قضاء منصب له مجریه قوې نه جلا شو کله چې امیر المومنین کوم ځای ته

والي استولو نو قاضي به يې هم جلا تعيناوه او استولو چې قضاء او مجريه قوه چې والي و، سره جلا شول، ولې مخکې له دې نه والي دواړه دندې مخکې بولې.[۳]

لکه څرنګه چې په قضايي فقه کې يو ليک د عمر رضی الله عنه چې ابو موسی اشعري ته يې لېږلی و او هغه د کوفې قاضي و، ځينې لارښونې ابوموسی اشعري ته په دغه ليک کې کړي دي چې د فقه په کتابونو کې را نقل شوي، او همداراز دغه ليک د قاضي سلوکيات بيانوي، له دغه ليک نه هم استنباطيږی چې قضاء په اسلامی فقه کې مستقله ګڼل شوې ده.

د عمر رضی الله عنه په خلافت کې نورې قضايې برخې په مستقل ډول رامنځته شولې لکه د مظالمو قضاء (ديوان مظالم)چې وروسته د فرانسه هېواد په تقنين کې وروسته له (لوړ د فرانسی انقلاب) نه دغه برخه د اداري قضاء تر عنوان لاندې په مستقل ډول د قضايه قوې له اثر نه پرته له اسلامي فقهې نه په ګټه اخيستنې سره رامنځته کړله، داسې ورته ډېر حقوقي قواعد شتون لري چې وضعي حقوقي قواعدو له اسلامي فقهې نه کاپي کړي دي.

[۳] - د زحيلی وهبه، فقه الاسلامی و ادلته ج ٦ ص ٧٤٣

## - مجريه قوه په اسلامي شريعت کې:

د رسول الله ﷺ په ژوند کې اسلامي دولت محدود په څو منطقو وو، نو په لومړيو کې چې اسلامي حکومت په مدينه منوره کې ايجاد شو مجريه واکونه آنحضرت ﷺ د عمومي خدمتونو لپاره تفويضول چې معاذ رضی الله عنه يمن ته د والي په حيث تعين کړلو همدا راز له هغه نه يې د ولايت د امورو د مخکې وړلو په اړه پوښتنه وکړه چې په څه حکم کوي معاذ رضی الله عنه ورته وويل په کتاب الله آنحضرت ورته وفرمايل کله چې په کتاب الله کې د څه پيدا نه کړل بيا پر څه حکم کوې نو معاذ ورته وويل چې په حديث حکم کوم بيا آنحضرت ورته وفرمايل که چېرې په حديثو کې دې څه پيدا نه کړل نو په څه په حکم کوې معاذ ورته وويل په خپل راى او نظر به اجتهاد کوم، نو پيامبر ﷺ ورته وويل چې الحمدلله چې رسول د رسول ته يې رهنمايي کړې ده.[٤]

د راشدينو خلفاء په وخت په ځانګړي ډول د عمر رضی الله عنه په وخت کې د مجريه قوي بنسټ چې اداري سېستم ورنه جوړيږي ځيني ادارې را منځته شوې چې اجراييوي واکونه يې درلودل لکه د بېلګې په ډول بيت المال چې د اسلامي دولت خزانه دخل او خرچ په اسلامي مالي نظام کې

٤ - روايت احمد، ابو داود، ترمذی، طبرانی، بيهقی دغه حديث مرسل ده.

ورنه کته اخیستل کېده، او همدا راز ټولو اسلامي قلمرو ته يې واليان تعين کړل او د صلاحيتونو تفويض د عامه مرافقو (عامه خدمتونو) په اړه دغو واليانوته وسپارل او د حساب دهي غوښتنې هم ورنه کولې، همدا راز د عامه خدمتونو د ښه سمون لپاره ځينې اصحاب هغه واليانو ولايتونو ته د تفتيش لپاره ورلېږل.

په ټوله کې دغې پايلې ته رسېږو چې په اسلامي شريعت کې د دولت په سطح د درې ګونو قواو تفکيک او استقلال کې کوم صريح ممانعت نشته او دلالتا د صحابو په زمانه کې دغه تفکيک رعايت شوی و، خو جوته موضوع د دغو درېيو قواوو دا ده چې دغه درې ګونې قوې به خپلې دندې د اسلامي شريعت له احکامو سره سم پر مخ بيايي.

## ٤- د دولت اداري سازماني جوړښت (اداري نظام) اصل:

دولتونه له دغه اړخه د بسيطو (ساده) دولتونو او د مرکبو (فدرال) دولتونو په ډولونو وېشل کېږي:

**ا) بسيط (ساده) دولت:** له هغو دولتونو څخه عبارت دي، چې د مرکزيت له يو اصل څخه رهبري کېږي، لکه افغانستان چې په ټولو اساسي قوانينو کې چې په بېلابېلو پړاوونو او سياسي نظامونو که وضع شوي افغانستان د بسيط دولت له اصل څخه پيروي کړې ده، لکه

څرنگه چې د ۱۳۴۳ هـ ل کال اساسي قانون د لومړۍ مادې حکم په دې ټکي تصريح شوې ده:

(افغانستان يو مشروطه پاچاهي، خپلواک، يو موټي او نه بېلدونکي دولت دی)

همدا راز د ۱۳۸۲ هـ ل کال اساسي قانون هم ټکی په ټکی همدغه حکم را بيان کړی ده البته په دومره تفاوت سره چې نظام له پاچاهۍ نه جمهوري ته تغير راغلی او داسې تصريح کوي:

( افغانستان خپلواک، واحد، او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی).

همدا راز د اداري واحدونو د تقسيم او جوړښت په افغانستان کې د اساسي قوانينو له احکامو سره سم د بسيط او ساده دولتونو پر بنسټ عيار شوي دی چې ۱۳۸۲ هـ ل کال د اساسي قانون اتم څپرکي د خپلې (۱۳٦) مادې د حکم په ترڅ کې چې مخکينيو اساسي قوانينو هم ټکی په ټکی دغه حکم بيان کړی د افغانستان ادارې داسې وېشلې دي:

(د افغانستان د اسلامي جمهوريت اداره د مرکزي ادارې او محلي ادارو د واحدونو پر اساس له قانون سره سم تنظيمېږي. مرکزي اداره پر ځينو اداري واحدونو وېشل کېږي، چې د هرې يوې په سر کې يو وزير وي.

د محلي اداري واحد ولايت دی. د ولايتونو او مربوطه ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشکيلات د نفوسو د شمېر، ټولنيزې او اقتصادي وضعې او جغرافيايي موقعيت پر اساس د قانون له لارې تنظيمېږي).

د دغې مادې د حکم پربنسټ د افغانستان اداري واحدونه په مرکزي واحدونو چې د هېواد په پلازمېنه (کابل) کې شتون لري او په سيمه‌ييزو واحدونو چې د ولايت، ترې ټيټ د ولسوالۍ او په ښارونو کې د ناحيو په سطحه کې دي، وېشل کېږي، که څه هم د افغانستان په پخوانيو اداري تشکيلاتو کې نورو واحدونو شتون درلود، چې په وړاندينيو اساسي قوانينو او د دولت د اساسي تشکيلاتو په قانون کې يې د لويې ولسوالۍ د واحدونو په نوم چې له ولايت څخه کوچني او له ولسوالۍ څخه لوی و چې له څو ولسوالۍ نه يوه لويه ولسوالۍ جوړيدله او همدارنګه د علاقه‌دارۍ د واحدونو په نوم چې تر ولسوالۍ لاندې يې شتون درلود، موجود و، چې دغه دوه واحدونه اوس مهال د افغانستان په اداري تشکيلاتو کې شتون نه لري.

**ب) مرکب (فدرال) دولت:** له هغه دولت څخه عبارت دی، چې په ايالتي شکل رامنځته کېږي. هر ايالت د خپل ايالتي او فدرال حکومت لرونکی دی، چې د امريکا، هند، پاکستان او ... هېوادونه له دغو

سېستمونو ښخه پیروي کوي. وړاندې مو څرګنده کړه، چې د افغانستان دولت یو بسیط دولت دی او د مرکب دولت سېستم یې رد کړی دی، لکه څرنګه چې د ۱۳۸۲ هـ ل کال اساسي قانون (۱ او ۱۳۶) مادې دغه ټکی تصریح کړی دی، همدارنګه د افغانستان د پورته یاد شوی اساسي قانون (۱۳۷) مادې کې د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري ګډون په اصل کې د خلکو ونډه‌اخیستنه تشویق کړې ده او داسې صراحت لري:

(حکومت د مرکزیت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چارو د ګړندي‌کولو او ښه‌والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لا زیاتې ونډې اخیستو په منظور، لازم صلاحیتونه د قانون له حکمونو سره سم محلي ادارو ته سپاري.)

## ٥- د اتباعو اساسي حقوق او وجايبو اصل:

په اساسي قوانینو کې د اتباعو اساسي حقوق او وجایب باید په صراحت سره درج وي، تر څو د ټولنې وګړي په واضح او روښانه ډول خپل حقوق او وجایبو باندې پوه شي لکه په حقوقو کې د تابعیت حق، د آزادی حق، د ژوندانه حق، د تعلیم حق، د کار حق، د مسکن د مصؤنیت حق، د نه شکنجه کولو حق او داسې نور حقوق چې د افغانستان ټولو اساسي قوانینو کې یو فصل د وګړو (اتباعو) د حقوقو او وجایبو په اړه

ځانګړی شوی وه.

همدا راز د وګړو وجایب په اساسي قوانینو کې باید درج وي لکه د مالیې او محصول ورکولو وجیبه، د عسکري مکلفیت دورې تېرول وجیبه، د وطن د دفاع وجیبه، د قانون رعایت او احترام وجیبه.

## دویم مطلب : معاصر فقهي لیدلوري په تړولنه کې د اساسي قانون د انفاذ په اړه:

معاصرو فقهاوو په اسلامي ټولنو کې د اساسي قانون د انفاذ په اړه خپل لیدلوري مطرح کړی دی چې په دغه برخه کې د هغو لیدلوري او نظریات لاندې بیانیږي:

مخکې له دې نه چې د معاصر فقهاؤو لیدلوری د اساسي قانون د انفاذ په اړه ذکر کړم اړین بولم تر څو د معاصر اساسي قانون په څېر مدون کتابونه او منشورونو ته چې د اسلامي شریعت له منابعو نه سرچینه اخلی په اسلامي لرغوني تمدن کې ورته اشاره وکړم:

### ۱- د مدینې منورې منشور:

کله چې ګران پیامبر حضرت محمد ﷺ له مکې نه مدینې ته هجرت وکړلو او هلته یې د یو اسلامي نظام او دولت د تاریخ په پاڼو کې د

اسلامي تمدن بنسټ کېښود.

لومړنی مدون سند چې له الهي وحې نه يې سرچينه اخيستې وه او د مدينې منورې د استوګنو تر منځ چې د يو اسلامي دولت تر چتر لاندې خپل ژوندانه ته ادامه ورکوله نافذ شو.

که چېرې مونږ د مدينې منورې منشور چې د مدينې د ميثاق تر عنوان لاندې هم يادېږي کتنه وکړو ځينې احکام د اوسني او معاصر اساسي قانون احکام ورکې پيدا کوو.

ابن کثير به سيرة النبوي کې د دغه ميثاق ذکر کړی چې لومړی متن يې داسې تصريح کوي:

( دغه ليکنه له طرفه د محمد نبي امي له خوا د مومنانو، مسلمانانو د قريش او يثرب "مدينې" او هغه کسان چې له دغه نه متابعت کوي او ورته ملحق کېږي، دغه ټول يو واحد ملت ګڼل کېږي....)

په لومړيو ذکر د ملت شوی ده چې په اوسنيو اساسي قوانينو کې د دولت د ساکينيو چې د دوو نورو رکنونو (حاکميت او قلمرو ) تر څنګ نفوس (وګړي) هم د يو معاصر دولت رکن ګڼل کېږي د واحد ملت ذکر منحيث د تبعه کېږي لکه د افغانستان په اساسي قوانينو کې دا ذکر شوی چې افغانستان يو واحد او غير قابل تجزيه دولت دی او هر وګړی

ته يې د افغان اطلاق کېږي.

بنا پردې د مدينې ميثاق په اساس کې د لومړي اسلامي دولت د بنسټ اساسي مدون او ليکلی قانون که ورته وويل شي اشتباه به نه وي او که چېرې ټول ليکل شوی متن مطالعه او وڅېړل شي له قران او حديث نبوي نه سرچينه اخلي او يا په خپله دغه ليک د اسلامي شريعت دويمه منبع صحيح نبوي حديث ده.

په دغه ميثاق کې د مدينې منورې د ټولو اتباعو او وګړو نومونه سره له مسلمانانو او يهودانو ذکر شوي دي چې ټول منحيث د يو ملت انګېرل شوي دي.

دغه ميثاق په تاريخي لحاظ د مؤرخينو له نظره اولين مدون ټولنيز سند منحيث د دستور او اساسي کرښې د يو دولت ګڼل کېږي چې په اسلامي دولت کې د هغه وګړي څنګه خپل ټولنيز ژوندانه ته ادامه ورکړي او د دولت چارې څنګه سمبال شي.

معاصر فقهاء د مدينې ميثاق نه په الهام سره او په متني احکامو کې له شرعي سرچينو نه په اخيستلو سره د اساسي قانون انفاذ په اسلامي ټولنو کې د دولتدارۍ د چارو د سمبال لپاره اړين بولي.

## ۲- د عباسیانو د خلافت پر وخت د دولتدارۍ مدون مستقل کتابونه:

په دې کې شک نشته چې د اسلام په لرغوني تاریخ کې د عباسیانو خلافت خپله لرغونتیا او تمدن درلود، په دغه وخت کې اسلامي فقهې د مجتهدینو د اجتهاد په سبب وده کړې وه، درسي حلقې د مجتهدینو په ټوله اسلامي ټولنه کې ایجاد شول، همدا راز په دغه زمانه کې اسلامي مذاهب ایجاد شول، اسلامي ثقافت خپل اوج ته رسېدلی و، لیکل شوي کتابونه چاپ شول، د نبي کریم ﷺ صحیح احادیث په شپږو کتابونو کې جمع شول چې د صحاح سته په نام یادیږي او عبارت دي له :( صحیح البخاري، صحیح المسلم، ابو داوود، ابن ماجه، ترمذي او نسايي).

چې په دغو د احادیثو کتابونو او د فقهې کتابونو کې د مجتهدینو اجتهادات د دولتولۍ په اړه هم ځانګړي بابونه او فصلونه درج شوي وه.

همدا راز وروسته ځینې فقهاو مستقل د دولتولی او اسلامۍ سیاست په اړه فقهي کتابونه ولیکل چې کټ مټ د هغو ابواب د اوسني معاصر اساسي قانون ته په اسلامي ټولنو کې ورته ده، له هغه جملې ځینو کتابونو ته په لاندې ډول اشاره کوم:

## - احکام السلطانیة والولایات الدینیة د ابوالحسن ماوردي کتاب:

په ۵۰۰ هـ ق پېړۍ کې یو فقیه د ابوالحسن الماوردي[۵] په نوم مستقل کتاب د (احکام السلطانیة والولایات الدینیة) تر عنوان لاندې تالیف کړه، ماوردي چې د عباسیانو د خلاف په وروستي وخت کې قاضي القضات و دغه کتاب هغه په خپل وروستي پړاو د عمر کې ولیکو مخکې له هغه نه چا د اسلامي دولتولۍ او سیاست په اړه مستقل کتاب نه وه لیکلی، اګر چه امام ابویوسف د امام ابوحنیفه رحمهما الله شاګرد د الخراج کتاب تر عنوان لاندې د هارون الرشید خلافت په زمانه کې مستقل کتاب لیکلی و خو هغه کتاب زیادتره د خلیفه او زعیم په اخلاقیاتو او سلوکیاتو لیکل شوی وه، خو دغه کتاب چې ماوردي لیکلی و، که ورته نظر وشي ګټ مټ د هغه ابواب او فصول لکه اوسني معاصر اساسي قانون ترتیب شوی ده چې د دغه کتاب ابواب او فصول عبارت دي له:

---

[۵] - نوم ابی الحسن علی بن محمد بن حبیب الماوردي په کال ۳۶۴ هـ ق د عراق په بصره ښار کې زیږیدلی او د ۸۶ کالو په عمر په کال ۴۵۰ هـ ق د عراق په بغداد ښار کې وفات شوي، نوموړي امام، فقیه او قاضی القضات د عباسي خلافت و، هغه ډیر تصنیفات لري چې مشهور تصنیف احکام السلطانیة ده. https://tarajm.com/people/١٥٦٧٨

لومړی باب : د امامت عقد (د زعيم د ټاکلو طريقه)

دويم باب : د وزيرانو ټاکل (د حکومت او مجريه قوې جوړښت او هغو ته د واک سپارل)

درېيم باب : د واليانو د ټاکلو طريقه په ولاياتونو کې.

څلورم باب : د لښکر د قومندانانو ټاکلو طريقه.

پنځم باب : د سولې او جگړې رهبري کول.

شپږم باب : قضاوت کول.

اوم باب: ولايت مظالم ( د مظالمو قضاء)[٦]

پورتني ټول ابواب د اوسني معاصر اساسي قوانينو اجزاء تشکيلوي چې د شکل له لحاظه کټ مټ همداسې تنظيم شوي دي او همدا راز د متن له لحاظه د سياسي اسلامي فقې نه په گټې اخيستنې په اسلامي ټولنه کې بايد اساسي قانون وضع شي.

[٦] - الماوردي ابولحسن، الاحكام السلطانية ص ٣٨٩

## - احکام السلطانیة ابوالحسن محمد بن ابي یعلی کتاب:

دویم کتاب لږ وخت وروسته د احکام السلطانیة تر عنوان لاندې په ۵۰۰ هـ ق پېړۍ کې یو بل فقیه د ابوالحسن محمد بن محمد ابي یعلی[۷] په نامه کتاب لیکلي و چې کټ مټ لکه د ماوردي احکام سلطانی کتاب عناوین په کی ځای پر ځای شوي وه او د اوسني او معاصر اساسي قوانینو ابواب او احکامو ته ورته ده صرف په دومره تفکیک سره چې اوسني اساسي قوانین د خپلو فصلونو لاندې د هر حکم لپاره جدا مادې لري خو دغه دوه سیاسي فقهي کتابونه چې پورته ذکر شول د سیاسي فقهې مسایل په کې په تفصیل سره بحث شوي دي.

## ۳- د معاصرو فقهاؤو لیدلوري په اسلامي ټولنه کې د اساسي قانون د شتون اړه:

د معاصر فقهاؤو لیدلوري چې د استناد وړ وي کولای شو چې له اسلامي مجامعو (فقهي کنفرانسونه) چې په کې د اسلامي نړۍ جید او ممتاز علماء راټولیږي او په معاصرو مسایلو فتاواوې صادروي، پیروي

[۷] - ابوالحسین محمد بن محمد ابن ابی یعلی معروف په ابی یعلی او ابن الفراء د عراق په بغداد ښار کې ۴۵۱ هـ ق کال کې تولد شوی او په کال ۵۲۶ هـ ق کال کې وفات شوي، ډېر تالیفات لري چې له هغه جملی نه یو هم احکام السلطانیة کتاب دي. ابن أبي یعلی - ویکیپیدیا(wikipedia.org)

وکړو له دې کبله په کال ۱۳۹۷هـ ق – ۱۹۷۷ زیږدیز د اسلامي بحثونو مجمع په خپله اتمه جلسه کې چې د مصر په قاهرې ښار کې دایره شوې وه دا وپتیله چې د یو مشروع اسلامي اساسي قانون لپاره په مصر کې د جامع الازهر اسلامي نړیوال پوهنتون باید یوه مسوده جوړه کړي تر څو اسلامي امت ته په دغه برخه کې یو لارښود وي.

د همدغې جلسې د تصمیم پر بنسټ شیخ دکتور عبدالحلیم محمود چې د جامع الازهر اسلامي نړیوال پوهنتون شیخ او د اسلامي نړیوال اسلامي بحثونو د مجمع رییس و دوه کمېټې وټاکلې یوه لوړه کمېټه او یوه هم د هماغې لوړې کمېټې له غړو نه یوه خاصه او فرعي کمېټه د مسودې د تیارول لپاره له اسلامي علماؤ او قانوندانانو له ډلې جوړه او وګمارله تر څو مسوده تیاره کړي.

دغه دواړه کمېټې له دغو لاندینیو کسانو نه جوړه شوي وه :

- لومړی لوړه کمېټه:

۱- دکتور عبدالحلیم محمود د جامع الازهر نړیوال پوهنتون شیخ د کمېټې مشر؛

۲- استاذ دکتور الحسیني هاشم؛

٣- استاذ او مستشار السيد عبدالعزيز هندي؛

۴- شيخ حسين محمد مخلوف؛

۵- استاذ الدكتور عبدالجليل شلبي؛

٦ - استاذ الشيخ عبدالجليل عيسى؛

٧ – استاذ او مستشار عبدالحليم الجندي؛

٨ - استاذ او مستشار عبدالفتاح نصر؛

٩ – استاذ او مستشار وزير عبدالمنعم عمارة؛

١٠ - استاذ او مستشار علي علي منصور؛

١١- استاذ دكتور محمد حسن فايد؛

١٢ - استاذ شيخ محمد خاطر محمد شيخ؛

١٣ - استاذ او وكيل محمد عطية خميس؛

١۴- استاذ دكتور محمود شوكت العدوي؛

١۵ – استاذ او مستشار مصطفى عفيفي؛

١٦ - استاذ او مستشار دكتور مصطفى كمال وصفي.

- **دویمه کمېټه:**

له دې پورتنۍ لوړې کمېټې نه یوه ځانګړې (خاصه) کمېټه د مسودې د جوړو لپاره په لاندې جوړښت وګمارل شوله.

١- استاذ دکتور حسیني هاشم؛

٢- استاذ او مستشار عبدالعزیز هندي؛

٣- استاذ شیخ حسنین محمد مخلوف؛

٤- استاذ او مستشار عبدالحلیم الجندي؛

٥- استاذ او مستشار عبدالفتاح نصار؛

٦- استاذ او مستشار وزیر عبدالمنعم عمارة؛

٧- استاذ شیخ محمد خاطر محمد الشیخ؛

٨- استاذ او مدافع وکیل محمد عطیه خمیس؛

٩- استاذ او مستشار مصطفی عفیفي؛

١٠- استاذ او مستشار یاقوت العشماوي؛

١١- استاذ او مستشار مصطفی کمال وصفي؛

١٢- دکتور محمود شوکت العدوي.

دغې فرعي او خاصې کمېټې د اسلامي اساسي قانون مسوده وروسته له

بحثونو تیاره او د لوړې کمېټې غړو ته یې وړاندې کړله چې د هغو له خوا و منل شوه چې د دغې نمونې او مسودې بابونه په لاندې ډول ذکر شوي دي:

لومړی باب : اسلامي ملت چې څلور مادې لري.

دویم باب : د اسلامې ټولنې بنسټ چې دیارلس مادې لري.

درېیم باب : اسلامي اقتصاد چې لس مادې لري.

څلورم باب : د اتباعو حقوق او وجایب چې شپاړس مادې لري.

پنځم باب : زعیم ( امام ) چې اوه لس مادې لري.

شپږم باب : قضاء چې درویشت مادې لري.

اوم باب : شورا او قانون جوړونه چې دوه مادې لري.

اتم باب : حکومت چې دوه مادې لري.

نهم باب : عمومي او انتقالي احکام چې اوه مادې لري.

د افغانستان اساسي قوانینو ته که کتنه وشي د پورتنې بابونو تر عنوان لاندې فصلونه په کې ځای پر ځای دي.

## درېیم مطلب: په افغانستان کې د اساسي حقوقو رامنځته کېدو ته ټول کتنه:

د افغانستان د اساسي قوانینو تدوین کابو یوه پېړۍ رانغاړي، له یوې پېړۍ وړاندې د لومړي ځل لپاره په قانوني سند کې د اساسي حقوقو د تدوین نظریه د افغانستان د هماغه وخت د واکمن امیر شیرعلي خان مهال ته رسېږي، په هغه وخت کې افغان فیلسوف او نابغه سید جمال‌الدین (افغاني) د سند مسوده تدوین کړې وه، چې د افغانستان د اساسي حقوقو بسنټ اینبودنکی سید جمال الدین وه، البته د ځینو سیاسي موضوعاتو له مخې یې په هغه وخت کې د نافذېدو بخت ونه موند. ورپسې په افغانستان کې د مشروطه غوښتنې نظریات د مشروطه غوښتنې د حرکت په توګه رامنځته شول، چې په دغه حرکت کې د افغانستان پاچا امیر امان الله خان هم شامل و، او کله چې واک ته ورسېد، د سیاسي سمونونو په موخه یې د افغانستان د شاهي لوړ دولت د اساسي نظامنامې تر عنوان لاندې یو سند د هغې لویې جرګې په واسطه چې د پغمان په ولسوالۍ کې جوړه شوې وه، د ۱۳۰۱ هـ ل کال د حوت په ورستیو ورځو کې تصویب کړ، او په ۱۳۰۲ هـ ل کال کې نافذ شو.

که څه هم له دغه سند سره مخالفتونو شتون درلود، چې لومړی د ننګرهار د جلال اباد ښار په لویه جرګه کې تصویب نه شو، خو وروسته

لړو بدلونونو سره د پغمان ولسوالۍ په لویه جرگه کې تصویب شو.

د یادونې وړ ده، چې یاده نظامنامه هماغه مسوده وه، چې سید جمال الدین افغاني ترتیب کړې وه او لړو بدلونونو سره پاچا امان الله خان د خپلې واکمنۍ په وخت کې هغه نافذ کړه. د یادې نظامنامې انفاذ سره د افغانستان د مدون تقنین په دوره کې لومړنی گام واخیستل شو، چې په بېلابېلو برخو کې د پنځوسو نظامنامو په شمېر کې د عامه او خصوصي په برخه کې او د اوسنۍ اصطلاح له مخې قوانین وضعه او نافذ شول، چې د افغانستان د مدون تقنین مبدا جوړوي.

اساسي قوانین یو په بل پسې د نادرشاه د واکمنۍ په مهال کال ۱۳۱۰ هـ ل (د افغانستان د لوړ دولت اساسي اصولنامه) تر عنوان لاندې وضعه او نافذ شوه، چې د افغانستان په اساسي حقوقو کې یو غلط بدلون تر اوسه شتون لري، د افغانستان هر نظام چې د زور او کودتاوو په واسطه منځته راغلی ده لومړی هر اړخیز بدلون یې په اساسي قانون عملی کړی ده، په داسې حال کې چې نورو هېوادونو کې له کلونو کلونو یو اساسي قانون نافذ دی صرف د عصر په تکامل سره ځینې تعدیلات او ایزاد په کې راځي.

وروسته په ۱۳۴۳ هـ ل کال کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د تقنیني

اسنادو په تسمیه کې د قانون اصطلاح وکارول شوه او د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ د مهال اساسي قانون نافذ شو، چې په واضح ډول د درې ګونو قواوو تفکیک په کې ځانګړی شوی وه، وروسته په ۱۳۵۵ هـ ل کال کې د جمهوریت په نظام باندې د شاهي سیاسي نظام د بدلون له مخې د افغانستان د لومړني ولسمشر سردار محمد داود خان په وخت کې د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون په نوم اساسي قانون نافذ شو، د ۱۳۵۷ هـ ل کال د ثور د اوومې له کودتا وروسته په ۱۳۵۹ هـ ل کال کې قانون د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو تر عنوان لاندې نافذ شو، ترې وروسته په ۱۳٦٦ هـ ل کال کې د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ د وخت اساسي قانون نافذ شو، چې د دوو کلونو تېرېدو سره په ۱۳٦٨ هـ ل کال کې له ځینو تعدیلاتو سره بیاځلې تجدید شو.

د استاد برهان الدین رباني د حکومت پر مهال د مجاهدینو د اسلامي دولت په وخت کې د اساسي قانون مسوده چمتو شوې وه؛ مګر د تصویب او انفاذ چانس یې ونه موند. د طالبانو د اسلامي امارت لومړۍ دورې د حکومت تر پایه پورې افغانستان اساسي قانون نه درلود، په ۱۳۸۲ هـ ل کال کې د حامد کرزي په انتقالي دوره کې اساسي قانون نافذ شو، چې وروسته د طالبانو د بیا واکمنیدو سره دغه اساسي قانون

ملغا اعلان شو، اوس مهال افغانستان کوم اساسي قانون نه لري، اگر چه د طالبانو حکومت د عدلې وزیر په رسمي ډول دا اعلان وکړ چې د دوی حکومت د ۱۳۴۳ هـ ل د محمد ظاهرشاه د پاچاهۍ اساسي قانون ته په هغه شرط رسمیت ورکوي چې احکام له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي خو دغه مادې نه دی جوتې شوي چې کومې مادې د ذکر شوی اساسي قانون له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي، خو وروسته له دغې اعلامي بیا هم د طالبانو حکومت د اساسي قانون په اړه گنگ سکوت اختیار کړی ده، او دا موضوع هم په صراحت سره نه ده اعلان او جوته شوې چې آیا د طالبانو حکومت د کوم اساسي قانون د مسودې هوډ لري او که نه.

په افغانستان کې د اساسي قانون نه په الهام سره نور تقنیني اسناد په قوانینو، تقنیني فرامینو، مقررو، اساسنامو او د وزیرانو شورى هغه مصوبې چې تقنیني ارزښت ولري بیلیږي.

هېره دې نه وي چې ځینې نور اسناد هم په دولتي اداراتو کې شتون لري چې هغه هم د قوانین په رڼا د اداري چارو د سمون لپاره په اداره کې وضع کیږي خو تقنیني سند نه ورته ویل کېداي شي بلکې هغه اداري اسناد نومېدلي شي لکه: طرزالعملونه، لوایح او متحد المالونه.

تقنیني اسناد له پورته ښکته خواته په قوانینو مقررو او اساسنامو بېلیږي چې یو له بل نه سرچینه اخلي په دغه مانا چې اساسي قانون کلي او عمومي قواعد وضع کوي فرعي قوانین تفصیلي ضوابط ورته وضع کوي او مقررې بیا نور هم په ښه تفصیل سره د قانون د تطبیق لپاره احکام په فرعي ضوابطو تفصیل او بیان ورکوي دغه لیدلوري په اسلامي فقهي کتابونو کې د فقهې قواعد تر عنوان لاندې هم په نظر کې نیول شوي دي لکه دا چې فقهي قواعد په مجلة الاحکام کتاب او یا نور فقهي کتابونو کې د فقهاؤ له خوا له قران او حدیث نه په پیروۍ سره وضع شوي دي بیا دغه قواعد په فروعاتو او ضوابطو سره نور فرعي احکام ورنه استنباط شوي دي د افغانستان تقنیني سندونه هم د یو بل لیدلوري تعقیبوي او هېڅکله فرع مخالف د اصل نشي کېدلای د بېلګې په ډول د افغانستان د قوانینو سرچینه اسلامي شریعت ده لکه څرنګه چې د افغانستان په اساسي قوانینو کې دغه حکم درج شوی ده، چې هېڅ قانون په افغانستان کې مخالف د اسلامې شریعت د معتقداتو نه شي وضع کېدلي، نو کله چې اساسي قانون داسې حکم کوي په خپله هم داسې حکم نه شي تصریح کولای چې مخالف د اسلامي شریعت د احکامو وي.

## دویم مبحث

## د افغانستان اساسي قوانین د اسلامي احکامو په انځور کې

مخکینې مبحث کې ذکر شو چې معاصر اسلامي علماء موافق دي چې په اوسني اسلامي ټولنو کې د اساسي قانون ضرورت او اړینوالي موجود ده له همدغه کبله د الازهر اسلامي نړیوال پوهنتون له پخوا نه په دغه اړه یوه مسوده د نمونې په ډول ترتیب کړی وه چې مخکې د هغه ذکر وشو په همدغه بنسټ په ډېری اسلامي هېوادونو کې اساسي قوانین وجود لري چې اسلامي شریعت سره تعلق لري د بېلګې په ډول رسمي دین اسلام ګڼل شوی ده او په ټولنه کې هېڅ قانون مخالف د اسلامي شریعت د احکامو او معتقداتو نه شي وضع کېدلي، اګر چه ځینو هېوادنو کې وروستي حکم سمبولیک نقش لري،[٨] خو په افغانستان کې که چېرې مدون قوانین ولټول شي او له اسلامي شریعت احکامو سره تاصیل شي نو دا ادعا جوته کېږي چې د افغانستان مدون قوانین په شمول د اساسي

[٨] - د علی محمود حسین، مبادی الدستور الإسلامي الأساسیة، مجلة کلیة العلوم الإسلامیة شماره ( ٢/١٤ ) ج ٧ سال ١٤٣٤ هـ ق – ٢٠١٣ م ص ٢

قانون شرچینه د اسلامي شریعت احکام دی.

په دی کې شک نشته چې اسلامي شریعت په خپل ذات کې سره له نورو څنډو او مواردو یو سیاسي دین دی خصوصا د دولتولي په برخه کې ځانګړی احکام لري چې د سیاسي فقه تر عنوان لاندې په مخکیني فقهي کتابونو کې د مستقل ابوابو تر عنوان لاندې بحث پرې شوی او یا هم په مستقل ډول کتابونه شتون لري لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول(احکام السلطانیة) د امام ماوردي رحمهه الله کتاب، نو په دغه بنسټ اسلامي اساسي قانون له نورو وضعي اساسي قوانینو سره په خپله ځانګړتیاوو او سرچینو توپیر کوي چې د اسلامي اساسي قانون ځانګړتیاوې د هغه د منابعو او سرچینو په سبب له نورو وضعي اساسي قوانینو سره توپیر لري.

په افغانستان کې د موضوعه قوانینو اصطلاح غلطه استعمالیږي ولې چې موضوعه قوانین انسانان له خپل بشري ذهن نه د موضوعه حقوقو له سرچینو نه په ټولنو کې وضع کوي خو په افغانستان کې قوانین د اسلامي شریعت له سرچینو نه په ګټه اخیستنې سره وضع کېدای شي لکه څرنګه چې په څو ځلي د اساسی قانون دغې مادې ته مو اشاره کړې ده چې په افغانستان کې هېڅ قانون مخالف د اسلامي شریعت د احکامو او معتقداتو نه شی وضع کېدلی د دغې مادې مخالف مفهوم دا

ده چې هر قانون په افغانستان کې باید د اسلامي شریعت د احکامو موافق وي، په دغه بنسټ په افغانستان کې له سل کلن مدون تقنیني پړاو نه را په دې خوا ټول قوانین د شریعت له احکامو سره سم وضع شوي دي بیا نو د موضوعه قوانینو اصطلاح ورته مصداق نه لري بلکې ورته باید د مدونو قوانینو یادونه وشي ولې چې دغه قوانین د فقه له قواعدو نه په ګټه اخیستنې سره په افغاني ټولنه کې تدوین او وضع شوي دي، له دې کبله اړین بولم په دغه بحث کې لږ څه په تفصیل لاندې مطالب توضیح کړم:

## لومړی مطلب : تقنیني قواعد:

تقنین په مفهوم د تشریع هم استعمالیږي قانون د ټولنیزو نظامونو په تنظیم کې د تاریخ د دورو په اوږدو کې خپل نقش لوبولی دی، پر همدې بنسټ قانون د ځانګړتیاوو او د خپلو دستوراتو پربنسټ امر او نهیه په ټولنو کې وضعه کوي، د تقنین دستورات د هغو د مفهوم پربنسټ په دوو ډولونو وېشل کېږي، چې عبارت دي له: ( الهی قوانین وضعي قوانین).

## ۱- الهي قوانين

الهي قوانين له هغو قوانينو څخه عبارت دي، چې د الله تعالى له خوا د هغه د بنده گانو لپاره د انبياؤو عليهم السلام په واسطه نازل شوي او د امر، نهيې، عباداتو او د ټولنيز ژوند د نورو مسايلو او اخروي معنوياتو رانغاړونکي دي.

الله تعالى په دې اړه داسې ارشاد فرمايي:

(لَقَد أرسَلنَا رُسُلَنَا بِالبَيِّنَات وَأنزَلنَا مَعَهُمُ الكِتَابَ وَالمِيزَانَ لِيَقُومَ النّاسُ بِالقِسطِ وَ أَنزَلنَا الحَدِيدَ فِيهِ بَأسٌ شَدِيدٌ وَ مَنَافِعُ النّاسِ).[۹]

موږ خپل رسولان روښانه دلايلو سره واستول او له هغوی سره مو کتاب او ميزان نازل کړل، ترڅو خلک عدالت قايم کړي او اوسپنه مو نازله کړه، چې په هغې کې ډېر ځواک او خلکو ته گټې دي.

دغه حقيقت ثابت دی، چې د بشريت د تاريخ د دورو په اوږدو کې الله تعالى پيغمبران مبعوث کړي او پر هغوی يې کتاب او صحيفې چې د بشريت لپاره د الهي احکامو رانغاړونکي دي، نازل کړې دي، چې د يهوديت او نصرانيت په څېر اديان د سماوي اديانو له ډلې څخه دي او

په اوسني عصر کې خپل پیروان لري، که څه هم دغه دینونه د اسلام د سپېڅلي دین نازلېدو سره منسوخ شوي دي؛ مگر بیا هم د سماوي ادیانو پیروان د اهل کتابو په څېر گڼل کېږي.

الهي کتابونه چې الهي قوانین دي او په ځمکې کې د بشریت لپاره نازل شوي و، د یو بل د احکامو تصدیقوونکي دي، لکه څرنگه چې الله تعالی په قران کریم کې ارشاد فرمایي:

(وَ أنزَلنَا اَلَيكَ الكِتَابَ بِالحَقّ مُصَدّقًا لّمَا بَينَ يَدَيهِ مِنَ الكِتَابِ وَمُهَيمِنًا عَلَيهِ فَاحكُم بَينَهُم بِمَا أنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتّبِع أهوَاءهُم عَمّا جَاءكَ مِنَ الحَقّ لِكُلٍّ جَعَلنَا مِنكُم شِرعَةً وَمِنهَاجًا ).[10]

او دغه کتاب (قران) مو په حقه پر تا نازل کړ، په داسې حال کې چې مخکیني کتابونه تصدیقوي او د هغو ساتونکی او حافظ دی، نو د هغو حکمونو له مخې د هغوی ترمنځ حکم وکړه، چې خدای نازل کړي دي، د هغوی له هوا او هوسونو څخه پیروي مه کوه او له الهي احکامو څخه مخ مه اړوه، موږ په تاسو کې د هر یو لپاره روښانه قانون او طریقه وراندې کړه.

---

[9] - قرانکریم (الحدید/ ۲۵).

[10] - قرانکریم (المائدة/ ۴۸).

د یادونې وړ ده، په دغه مبحث کې په خپله باید هغو اسلامي احکامو ته اشاره ولرو، چې په حقوقي برخه کې تصریحات لري، لکه څرنګه چې افغانستان په خپل حقوقي سېستم کې د اسلام د مقدس دین له احکامو څخه پیروي کړې ده، په دې برخه کې د کال ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون (۳) ماده داسې اشاره کوي:

(په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي).

د پورتنۍ مادې د حکم پربنسټ په افغانستان کې د قوانینو د وضعې اساس اسلامي شریعت دی، د یادونې وړ ده، چې د خپل بحث په دې برخه کې به د اسلامي حقوقو ځینو هغو قواعدو ته لنډې اشارې ولرو، چې د افغانستان د حقوقي سېستم بنسټونو او اساساتو ترې پیروي کړې ده.

### - اسلامي حقوق:

اسلامي حقوق له هغو الهي احکامو څخه عبارت دي، چې د الله تعالی له خوا په حضرت محمدﷺ باندې نازل شوي او د اوامرو او نواهیو رانغاړونکي دي، چې له اوامرو څخه پیروي د ثواب وړ او ترک یې د دنیوي او اخروي رټنې او عذاب وړ ده، له نواهیو څخه ځان ساتنه د

ثواب وړ او پر هغو عمل د دنيوي او اخروي رټنې او عذاب وړ دی.

د اسلام دين يو جامع او بشپړ دين دی، د انساني ژوند ټول اړخونه يې په دنيا کې تر خپلو احکامو لاندې راوستي دي، لکه څرنگه چې الله تبارک و تعالی فرمايي:

(وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ).[11]

او موږ دغه کتاب پر تا نازل کړ، چې د هر شي بيانوونکی او د مسلمانانو لپاره د هدايت، رحمت او بشارت سرچينه ده.

د پورتنۍ توضيح پربنسټ د مسلمان لپاره دا جايز نه ده، ترڅو په قانون جوړونه کې د شريعت له حدودو څخه بهر شي. هر هغه وضعي قانون چې په اسلامي ټولنو کې د مسلمانانو له خوا وضعه کېږي، شرط يې دا دی، ترڅو له اسلامي شريعت سره مطابقت ولري.

د افغانستان د قانون جوړونې د تاريخ په اوږدو کې چې د اټکل له مخې يوه پېړۍ (سل کاله) رانغاړي، مطلق اکثريت قوانين د اسلامي شريعت بنسټ لري، دې ته له پامه پرته چې سياسي نظامونه سيکولر و؛ مگر

---

[11] - قرانکريم (النحل/ ۸۹).

قوانینو شرعي بنسټ درلود، چې په راتلونکو برخو کې به ورته اشاره ولرو.

پر همدې بنسټ اسلام یو بشپړ دین دی، چې د بشریت د ټولنیز ژوند په بېلابېلو اړخونو کې یې په اقتصادي، سیاسي، حقوقي او نورو برخو کې د احکامو بنسټ اینبی دی او د اسلام په دین کې داسې څه نه دي پرېښودل شوي، چې په اړه یې په شریعت کې حکم شتون ونه لري. د اسلام د سپېڅلي دین همدا پوره‌والی د دې سبب ګرځېدلی، ترڅو په نړۍ کې د ژوندي حقوقي سېستم په توګه نامسلمان پیروان هم ولري، مثال یې د فرانسې هېواد په حقوقي سېستم او د هغه هېواد په قوانینو کې په ګوته کولای شو. کله چې د فرانسې امپراتور ناپلیون بناپارت د افریقا اسلامي هېوادونه تر خپلې ولکې او ښکېلاک لاندې راوستل، نو د مصر په هېواد کې د اسلامي حقوقي سېستم غنامندي د هغه د پام وړ وګرځېده، ترڅو یې په پای کې د اسلام له حقوقي قواعدو او احکامو څخه خپل مدني کوډ جوړ او نافذ کړ، چې د ناپلیون کوډ په نوم تراوسه پورې د بېلابېلو هېوادونو د حقوقپوهانو د څېړنې او مطالعې وړ دی. په یاد کوډ کې د احکامو ډېره مطلقه برخه د اسلام له حقوقي قواعدو څخه اخیستل شوې ده، کله چې د افریقا اسلامي هېوادونو له فرانسې څخه د خپلې خپلواکۍ واخیستله، بیا مصر د فرانسې مدني کوډ عربي ژبې ته

وژباړه، او هغه يې د خپل هېواد مدني قانون وگرځاوه، افغانستان بيا خپل مدني قانون په ۱۳۵۵ هـ ل کال کې د مصر له مدني قانون څخه وژباړلو او نافذی کړو، نو هر کله چې د مدني قانون اساسات او قواعد تأصيل (اصل يې وپلټل) شي، نو سرچينې او اصول يې د اسلامي شريعت په احکامو او فقهي کتابونو کې موندل کېږي. پر همدې بنسټ دا له انکاره پرته ثابتېږي، چې د فرانسې مدني قانون د اسلامي فقهې منشا لري او ياد قانون مصر د ځان لپاره ژباړلی او نافذ کړی دی، افغانستان په ۱۳۵۵ هـ ل کال کي د مصر له مدني قانون څخه خپل مدني قانون ژباړلی او نافذ کړی دی.

په همدې بنسټ مخکی هم ذکر شو چې د افغانستان ډېری قوانينو ته د وضعي قوانينو صفت ورکول ناسمه خبر ده ولې چې کله د يو قانون اصل اسلامي شريعت وي نو هغه ته څنگه کولای شو مع الفارق صفت ورکړلو نو د افغانستان د قوانينو منشاء اسلامی فقهي قواعد، فروعات او ضوابط دي چې په ليکلي ډول تنظيم شوي دي.

### - د اسلامي حقوقو سرچينې او مصادر:

په ټوله کې شرعي احکام د هغو د دلايلو په واسطه پېژندل کېږي، چې شارع د اسلام د ستر پيغمبر محمد مصطفی ﷺ په واسطه بشريت ته

استولي دي، د شرعي احکامو وضعه کوونکی حکيم شارع دی، پر همدې بنسټ د اسلامي حقوقو سرچينې په ټوليز شکل عبارت دي له:

١- کتاب الله ( قران کريم)؛

٢- سنت ( حديث)

٣- د امت اجماع؛

٤- قياس؛

٥- استحسان؛

٦- مرسله مصالح؛

٧- سد الزرايع؛

٨- عرف؛

٩- استصحاب؛

١٠- شرايع من قبلنا (مخکيني شريعتونه).

اسلامي شريعت يو کامل دين دي چې د انسان ژوندانه ټول ابعادو ته احکام لري په همدې بنسټ په اسلامي شريعت کې احکام ډېر او متنوع دي، چې د اسلامي اصول فقهې کتاب ليکوال دکتور عبدالکريم زيدان هغه په درې ډلو وېشلي او توضيح کړي دي، چې په لاندې ډول دي:

**لومړی ډول:** په عقیدې پورې اړوند احکام لکه په الله تعالی، پرښتو، اسماني کتابونو پیغمبرانو او د اخرت په ورځ باندې ایمان لرل چې د توحید د علم په نوم یادیږي.

**دویم ډول:** د نفس په تهذیب او سینګارولو او په سمې لارې د هغه د برابرولو اړوند احکام، دا ټول اخلاقي احکام دي، چې د اخلاقو د علم او تصوف په نوم یادیږي.

**دریيم ډول:** عملي احکام د مکلفینو په هغو اقوالو او افعالو پورې اړوند دي، چې مقصد یې اسلامي فقه ده او څه برخه یې عبادتونه دي او څه برخه نوره یې د اوسنۍ اصطلاح له مخې د عام او خاص قانون په دایره کې داخلې معاملې دي، چې له وګړي سره د وګړي، یا له ټولنې سره د وګړي او یا له ټولنې سره د ټولنې د اړیکو له منظمولو څخه عبارت دي او دغه ډول احکام عبارت دي له:[12]

[12] - دکتور زیدان، عبدالکریم، اصول فقه اسلامی، ۱۴۵ مخ.

### - د مکلفینو په اقوالو او افعالو پورې اړوند حقوقي شرعي احکام:

۱- د کورنۍ احکام (احوال شخصیه) لکه نکاح، طلاق، بنوت، نسب، په ماشومانو ولایت او داسې نور؛

۲- د معاملاتو احکام لکه د عقدونو ډولونه، بیعه، ګروي، اجاره او داسې نور؛

۳- د قضاء احکام دعوه، د دعوې دفعه، شهادت او داسې نور؛

٤- د جرمونو او سزاګانو احکام لکه د اسلام جزائي حقوق؛

٥- د دولت د سیاسي نظام احکام لکه پر رعیت د اسلامي واکمنو د حکومتولۍ احکام؛

٦- له نورو دولتونو سره د اسلامي دولت د تعامل احکام؛

٧- اقتصادي احکام لکه زکات، سوداګري، د دولت عواید او لګښتونه.

په ټوله کې پورتني شرعي حقوقي احکامو ته په کتو او الهام سره د افغانستان اساسي قوانین په کلي احکامو سره تنظیم شوي دي او له هغه کلي احکامو نه په الهام سره بیا فرعي قوانین تنظیم شوي دي چې د

وصل تسلسل د مدونو قوانينو او اسلامي شريعت د احکامو په افغانستان کې موجود ده، دغه تسلسل داسې ده چې په افغانستان کې قانون مخالف د اسلامي شريعت نه شي وضع کېدلي دغه حکم د اساسي قانون په کلی احکامو کې تصريح شوی ده پدغه بنسټ قانون په افغانستان کې بايد مطابق د اسلامي شريعت د هغه احکامو نه چې ځينې يې پورته  ياد شول وي، همدا راز فرعي قوانين د اساسي قانون او شريعت مخالف په افغانستان کې نه شي وضع کېدلي.

همدا راز د پورتني احکامو د توضيح او وېش له مخې د اسلامي فقهې له احکامو څخه هغه برخه زموږ بحث پورې تړاو لري، چې زموږ قوانين او په ځانګړي ډول اساسي قوانين د تاريخ په سل کلن تقنيني پړاو کې ورنه سرچينه اخيستې ده، پورته ليدل کېږي چې دغه بېلګې د افغانستان ډېری اساسي قوانينو کې د اسلامي فقهي له احکامو سره سم په نظر کې نيول شوي دي د بېلګې په ډول:

### ۱- د کورني احکام:

د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون ۵۴ مادي کې د کورني (فاميل) په اړه داسې حکم شوی:

(کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دي او دولت تر پاملرنې ده، دولت د

کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي).

## ۲- د قضاء احکام:

د قضاء په برخه کې د افغانستان ټول اساسي قوانینو په ځانګړې ډول یو فصل د قضاء تر عنوان لاندې د متعددو مادو سره قضایي احکام لکه قضایه قوه یو مستقل رکن، د محاکمو تشکیلات، د خلکو حق د دعوی په صورت کې محاکموته مراجعه، حتی دولت که چېرې د خلکو په حقوقو تیری کړی وي خلک کولای شي چې دولت باند هم د حق او د خسارې د جبران دعوی محکمه کې اقامه کړي، دغه ټول موارد د افغانستان په اساسي قوانینو کې د اسلامي شریعت د احکامو پر بنا ذکر شوی دی.

همدا راز محاکم د ۱۳۴۳ هـ ل کال اساسي قانون د ۱۰۲ مادی پر بنسټ او د ۱۳۸۲ هـ ل کال د۱۳۰ مادی د حکم پر بنسټ مکلف دي تر څو پخپلو پرېکړو کې په لومړي پړاوو کې د اساسي قانون احکامو ته مراجعه وکړي که په اساسي قانون کې حکم د پرېکړو لپاره پیدا نه کړو بیا د نور فرعي قوانینو ته مراجعه وکړي که په هغو کې هم حکم د

پرېکړې لپاره پیدا نه کړو نو بیا د حنفي فقه ته مراجعه وکړي تر څو عدالت په بهترینه وجه تامین شي.

یوه ټکي ته باید متوجه شو چې د اساسي قوانینو پورته ذکر شوې مادې نه داسې برداشت ونه شي چې ګویا فقه ته مراجعه په درېیمه مرحله کې ده بلکه فقه منحیث د قوانین منبع په افغانستان کې اوله منبع او په مراجعه کې درېیمه منبع ده، یعنی د افغانستان د اساسی قانون(۳) ماده تصریح کوي چې په افغانستان کې هېڅ قانون مخالف د اسلامي شریعت د معتقداتو او احکامو نه شي وضع کېدلی نو دا خبر جوته ده چې اساسي قانون او نور قوانینو منبع په افغانستان کې اسلامي شریعت او اسلامي فقه ده چې اسلامي فقه په قوانینو کې تدوین شوې ده او دویمه موضوع د قاضي د مراجعې ده هغه داسې چې کله قاضي په قوانینو کې کوم حکم پیدا نه کړ نو بېرته باید اصل منبعې ته مراجعه وکړی چې هغه فقه ده او په فقه کې هم تنها حنفی فقهی ته ولی چې د افغانستان اکثر وګړي د حنفي فقهې پیرو دي او په دغه تعین سره باید د قضایي تورم او انارشیزم مخنیوی وشی صرف د ۱۳۸۲ کال اساسی قانون په ۱۳۱ مادې کې د اهل تشیع مذهب پیروانو ته هم دا حق ورکړی وه کچیری په قانون کې کوم حکم د منازعي د حل لپاره موجود نوی او دواړه خوا د دعوا د اهل تشیع مذهب پیروان وي نو د اهل تشیع اسلامي فقه پر بنسټ د

محکمه پرېکړه وکړي.

### ۳- د جرمونو او سزاګانو احکام:

د جرمونو او سزا ګانو په اړه د اسلامي شريعت احکام په کلي ډول د افغانستان د اساسي قوانينو په مادو کې د جرم او سزا د قانونيت قاعده په لاندې ډول ذکر شوې ده:

لسمه ماده، اساسي نظامنامه کال ۱۳۰۲ هـ ل:

(خپل واکی او ازادی د هر سړی له هر قسمه خلل او مداخلې څخه ساتل شوی دی، هېڅوک بی له حکمه د شرعي او قانوني نظامو څخه نه توقيف کېږي او نه جزا ورکوله کيږي.)

شپږويشمه ماده، اساسي قانون کال ۱۳۴۳هـ ل:

(آزادی د انسان خدای ورکړی حق دی، دا حق بې د نورو له آزدایۀ او عمومي ښېګړو نه چې قانون ښودلې دی نورې پولې نه لري، د انسان ازادی او کرامت د بلوسي نه په امن دی او بېلتون نه قبلوې. هېڅ کړه جرم نه ګڼل کېږي مګر هله چې يو داسې قانون په موجب جرم وبلل شي چې د دغې کار له کولو نه مخکې نافذ شوی وي، هېڅچا ته سزا نه شي ورکول کېدی مګر هله چې يو واکمنې محکمې پرې د ښکاره او

حضوري محاكمې نه پس حكم صادر كړى وي، هېڅ‌چا ته جزا نه شي وركول كېدى مگر د هغه قانون د حكمه سره سم چې د دغه تهمتي كار له كولو نه ړومې نافذ شوى وي، هېڅوک بې د قانون له حكمه تعقيب كېدلى يا نيول كېدلى نه شي، هېڅوک توقيف كېدلى نه شي مگر د واكمنې محكمې د حكم او د قانون د حكمونو سره سم.

د غاړې خلاصون اصلي حالت دى، څو پورې چې تورن د محكمې له خوا په قطعي پرېكړه محكوم عليه نه شي بې‌گناه گڼل كېږي، جرم د هر چا خپل ځاني شى دى د تورن تعقيب، نيول، توقيف او سزا وركول بل چاته نه ورځيږي ....)

اوه ويشتمه ماده، اساسي قانون كال ١٣٨٢ هـ ل:

( هېڅ يو عمل جرم نه گڼل كېږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتكاب دمخه نافذ شوى وي، هېڅوک د قانون له حكمونه پرته تعقيبيداى، نيول كېداى او يا توقيفيداى نه شي، هېڅ‌چا ته سزا نه شي وركول كېداى مگر د با صلاحيته محكمې په حكم او د هغه قانون له احكامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتكابه مخكې نافذ شوى وي)

همداراز دغه قاعده تنها د افغانستان په اساسي قوانينو كې نه بلكې د ټولې نړۍ په اساسي قوانينو كې درج شوې ده په داسې حال كې چې

دغه د جرم او سزا قاعده په اسلامي شریعت کې د شرعي نصوصو پر بنسټ ثابته شوې ده لکه څرنگه چې الله تبارک او تعالی فرمايي:

((وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا)) [١٣]

تر څو چې مونږ رسول نه وي لیږلی هیڅوک ته سزا نه ورکوو.

الله تبارک او تعالی په قران کې فرمايلي دي چې تر څو مونږ چاته سزا نه ورکوو تر هغو مو چې پيغمبر نه وي ورته رالیږلی او هغه د الله حکم امت ته نه وي بیان کړی له دغه شرعي نص نه جوته کیږي چې تر څو قانوني ابلاغ شوی نه وي او هغه اعمال په قانون کې جرم نه وی گڼل شو سزا ورکول نا عادلانه کړنه ده.

په دغه بنسټ ذکر شوې قاعده په ١٨ زیږدیزه پیړۍ کې موضوعه حقوقو او قوانینو ته په غربي نړۍ کې داخله شوه یو د موضوعه حقوقو حقوقپوه د (سازار بیکاریا) په نامه دغه قاعده په موضوعه حقوقو کې ځکه درج کړله چې د دولتونو واکونه چې په مطلق ډول د جزاء په حقوقو کې موجود و منحصر په قانون کړي په داسې حال کې چې اسلامي شریعت د حضرت رسول اکرم ﷺ په بعثت سره په (٦٠٠) زیږدیزه پیړۍ کې دغه قاعده او حکم د اسلام په لومړنۍ سرچینه

[١٣] - اسراء سورت، ١٥ آیت.

(قرانکریم )کې د الله تبارک و تعالی له خوا نازل شوی ده چې په اسلامي فقه کې دغه قاعده مجازات په حدود، قصاص، دیت او تعزیر سره معینوي حتی تعزیرات د دې لپاره چې خلک بېگناه مجازات نه شي په معاصرو جزایي قوانینو کې معین شوی دی، تر څو قاضي له خپل واک نه غلطه فایده وانه خلي.

### ٤- د دولت د سیاسي نظام احکام:

د دولت سیاسي نظام هم د افغانستان ډېری اساسي قوانینو کې له اسلامي شریعت نه په الهام سره تعین شوی دی زعیم او پاچا یې مکلف کړی تر څو د اسلامي شریعت تطبیق وکړي لکه څرنگه چې د ۱۳۰۲ کال اساسي نظامنامې په پنځمه ماده کې شاه داسې مکلف کړی ده:

( ذات د اعلیحضرت خدمتونو او ساتونکی د دین مبین د اسلام، ټولواک او پادشاه د تمامي تبعه او رعیت د افغانستان دی.)

همدا راز د ۱۳۱۰ کال اساسي اصولنامه کې داسې ذکر شوی دی:

( ... ذات همایوني ده په وقت د کښېنستو پر تخت د مستقل پادشاهي د افغانانو پر مخ د ټولو وکیلانو او مشرانو د ملت ذمه دار سوی دی چه سم له مفتي به حکمونو د شرع شریف نبوي ﷺ او له دې اصول

اساسي د مملکت سره به اجرا د خپل پادشاهي د حکمو کوي....)

اومه ماده د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون د پادشاه د مکلفیت په اړه داسې حکم کوي:

( پاچاه د اسلامي د سپیڅلی دین د اساسونو ساتنوال، د افغانستان د خپلواکۍ او د سیمی د تمامیت ساتونکی، د اساسي قانون ساتندوی او د ملی یوالی مرکز دی)

په دری شپیتمه ماده د ۱۳۸۲ هـ ل کال کې ولسمشر د کار د پیل دمخه باید داسي لوړه وکړی:

بسم الله الرحمن الرحیم

(د لوی خدای جل جلاله په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم، داساسی قانون او نورو قوانینو رعایت او د تطبیق څارنه وکړم، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم.

د لوی خدای جل جلاله له دربار څخه د مرستي غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسایۍ په لاره کې خپلې هڅې جاری وساتم.)

د افغانستان اساسي قوانینو خصوصا د ۱۳۰۲ – ۱۳۱۰ – ۱۳۴۳ – ۱۳۸۲ کلونو د افغانستان پاچاهان او زعیمان د اسلام دین ته په کړونو مکلف کړل و، خو زمونږ هدف د هغو په کړنو نه ده ځکه هغه بحث د تاریخ واقعیتونه دی چې په تاریخو کتابونو کې د مورخینو له خوا ارزول کیږي زمونږ بحث د افغانستان اساسي قوانین د اسلامي احکامو په انځور کې ده، چې له پورته ذکر شوی ځینو مادو دا جوته ده چې د افغانستان اساسي قوانین د سیاست په برخه کې د افغانستان زعیم د شریعت د تطبیق احکامو ته مکلف کړی و.

### ۵- له نورو دولتونو سره د تعامل احکام:

شیخ ابو زهره چې د الازهر نړیوال پوهنتون له عالمانو څخه و چې زرکلي په خپله کتاب کې د هغه په اړه وایي هغه چې د خپل وخت د اسلامي شریعت تر ټولو لوی عالم و، او په کال ۱۳۹۴ هـ ق کې وفات شوی دی شیخ ابو زهر په خپل کتاب العلاقات الدولیة في الاسلام (د دولتونو تر منځ تعلقات په اسلام کې) کې لیکلي دي چې اصل او اساس د مسلمانانو او غیر مسلمانانو ترمنځ د اړیکو سوله ده، او دا د اکثریتو فقهاوو نظر دی.

همدا راز ډاکټر وهبه الزهیلي چې د دمشق په پوهنتون کې د شرعیاتو د

پوهنځي رییس او د فقهې د پوهنځي استاد دی په خپل کتاب کې د العلاقات الدولیة في الاسلام (د دولتونو تر منځ تعلقات په اسلام کې) لیکلی چې په اسلام کې د نړیوالو اړیکو ریښه سوله ده، ترڅو چې برید وربانديې نه وي شوی. [١٤]

د دولت سیاسي او دیپلوماتیک تعاملات هم د افغانستان په اساسي قوانینو کې په بالمثل اعمالو تعین شوی ده.

لکه څرنګه چې د ۱۳۰۲ هـ ل اساسي نظامنامې اومه ماده[١٥] کې، د ۱۳۱۰ هـ ل کال اساسي اصولنامې د دوم اصل په لومړۍ ضمیمې تعدیل کې[١٦]، د ۱۳۴۳ هـ ل کال اساسي قانون د پادشاه واکونه په دویمه، نهمه او لسه فقره، نهمه ماده کې همدا راز په ورستیو اساسي قوانینو کې د افغانستان د اساسي حقوقو سیاست سیاق او فهوا په سوله او د منطقې او نړۍ په ثبات ولاړ و خو متاسفانه په عمل کې نړیوال زبرځواکونه او نا اهله ګاونډیو افغانستان په بین المللی رقابتي جګړو کې

[١٤] د زحیلی وهبه، العلاقات الدولیة في الاسلامی ص ۱۱ / ابو زهره محمد العلاقات الدولیة في الاسلام ص ۵۰ ط دارالفکر عرب.

[١٥] - ( ... د ټول لښکر د افغانستان جنګ او سوله کول عقد وتړل د ټولو عهد نامو ...) اومه ماده اساسي نظامنامه کال ۱۳۰۲ هـ ل

[١٦] - ( ... په افغانستان کې د خارجه سفارت خانو د مقاولاتو ته د متقابلی معاملي په ډول تګ کیږي) اساسی اصولنامه کال ۱۳۱۰ دویمه اصل تعدیل کال ۱۳۱۷ هـ ل.

وروسته له ۱۳۵۷ کال نه تر اوسه د جنگ میدان گرځولی ده په داسې حال کې چې د افغانستان د اساسي سیاسي کربنو هدف چې په اساسي قوانینو کې صراحتا او دلالتا منعکس شوی دی د بېطرفي او سوله ایز سیاست په سیمه کې دایما غږ اوچت کړی ده، چې دغه غږ به منافقانه دوه مخو نړیوال سیاستونو کې د افغانستان په مسله کې د ښکېلو هېوادونو کړنې د افغانستان په ضرر او تاوان واقع شوی ده.

## ٦- اقتصادي احکام:

په مجموع کې د افغانستان دېرى پخوانيو اساسي قوانينو د اقتصاد په پرخه کې خپل احکام بيان کړي دي او د افغانستان د اقتصاد د ودې لپاره له اسلامي شريعت او اساسي قانون نه په الهام سره د اقتصادي ودې لپاره فرعي قوانين وضع کړي دي لکه د منع احتکار قانون د محصولات او مالياتو مختلف قوانين د افغانستان د عمومي بوديجې د تمويل لپاره قوانين.

د بېلگې په ډول د لومړی اساسی قانون (اساسي نظامنامه) ځینې مادې په اقتصادي برخه کې لاندې ذکروم:

دولسمه ماده:

(اوسېدونکی د افغانستان سم له نظامنامو سره د پاره د سوداګري، کسب، کار، کښت او کرنه هر رنګه شرکت کولی شي.)

اتلسمه ماده:

(مقررې مالیې او محصولات په قرار د نظاماتو د هغو له تابعانو د افغانستان څخه په اندازه د استعداد او ودانۍ د دوی، ایښودل او اخستل کېږی.)

اته پنځوسمه ماده:

(ټول محصولونه د دولت سم له خاص قانون خپل سره اخسته کېږي).

نه پنځوسمه ماده:

(هر کال له پاره د دخل او خرڅ د دولت یوه بودجه جوړېږي او دا بودجه په اساس و دستور العمل وي له پاره د دخلو او خرڅو د دولت ټول دخلونه او خرڅونه د دی له مخی اخسته، او په خرڅ رسول کېږي).

شپیتمه ماده:

(پس له جاري کېدلو د سالانه بودجې او تمامیدلو د کال یو قطعي حساب به د دخل او خرڅ صحیح انداره د دی تېر کال ښکاره کوي).

يوشپيتمه ماده:

(لپاره د تحقيق و غور "د دې خبرې چه آيا دخلونه او خرڅونه د دولت به رښتيا سم له نظامنامې د بودجې سره شوی دی او كنه؟" يو دفتر د سنجش جوړيږي ديوان سنجش د پاره خاصه نظامنامه سته)

د پورته ذكر شوي مادو پر بنسټ د لومړی ځل لپاره په افغانستان كې مدون فرعي نظامنامې (قوانين) نافذ شوي چې له هغه جملې (تقاوي تجاريه نظامنامه، د عمومي بوديجه نظامنامه، د افغانستان دولتي صنايعو د تشويق نظامنامه، د گمرک د رسومو د اخيستلو نظامنامه، د ماضيه اجراآتو د محاسبوي تصفيه نظامنامه، نظامنامه د زراعت د للمې، د سركاري املاكو د خرڅلاو نظامنامه)

دغه پورته ذكر شوي تقنيني اسناد له اسلامي شريعت له احكامو نه په گټه اخيستنې  او سرچينې په هغه وخت كې په اقتصادي او تجارتي برخه د افغانستان د اقتصاد د ودې لپاره وضع شوي وي.

همدا راز د دې لپاره چې تجارتي معاملات او موضوعات د خصوصياتو له وجهې له نورو موضوعاتو نه توپير لري، په لومړي ځل شكلي قانون د تجارتي شرعيه محاكمو لپاره د( د شرعيه محاكمو نظامنامه د تجارتي معاملاتو په برخه كې) نافذه شوله تر څو تجارتي معاملات د نزاع او

دعوی په صورت کې په ښه او عادلانه ډول پرېکړه وکړي.

د ذکر وړ بولم چې په اسلامي حقوقو کې د شريعت مقاصد چې له هغو نه د عصر مطابق د اسلامي اصولو سره سم قوانين وضع کېدای شي، او افغانستان په خپل اساسي قوانينو کې او نورو تقنيني اسنادو کې له دغه اسلامي سرچينې نه استفاده کړې ده، په دغه بنسټ اړينه بولم تر څو د اسلامي شريعت مقاصد چې د هغو په انځور کې د اساسي قانون د انفاذ مشروعيت ليدل کېږي ذکر کړم:

### - د اسلامي شريعت مقاصد:

په اسلامي شريعت کې مصلحت د شارع له موخو څخه ساتنه او حفاظت دی، د شارع موخه ټولنې او بشريت ته د ګټې راجلبول او د زيان دفعه ده، چې د اصول فقې علماء د شريعت مقاصد په پنځو لاندينيو ډولونو وېشي:

١- د نفس ساتنه؛

٢- د مال ساتنه؛

٣- د نسب ساتنه؛

٤- د عقل ساتنه؛

٥- د دين ساتنه.

اسلامي شريعت په يادو مقاصدو کې د هر يو د ساتنې لپاره قواعد وضعه کړي دي، له هغو څخه تېرى او يا پر هغو تېرى اسلامي شريعت ورته سزاګاني تعين کړي دي.

د انسان پر نفس تېرى شريعت حرام ګڼلى او مرتکب يې قاتل دى او په سزا سره يې مجازات کوي، همدارنګه پر دين تېرى شرعيت جرم ګڼلى او مرتکب يې د سزا وړ ګڼي.

پر عقل د تېري د نشه يې شيانو او موادو کارول حرام او کاروونکى يې د سزا وړ ګڼي، لکه د شرابو يا نشه يي توکو لکه هيروئينو، مورفين، چرسو کارول چې عقل له منځه وړي يا يې پوښي، د عقل د ساتنې په موخه حرام ګڼي.

اسلام هغه دين دى، چې د واده له لارې د انسانيت تداوم د نسب د ساتنې لپاره مشروع ګڼي او له نامشروع لارې هغه حرام، زنا جرم او د نسبونو د خلط سبب او د عفت نفيه کوونکى او بد عمل ګڼي، د زنا د بد عمل مرتکب د سزا وړ ګڼي.

د مال ترلاسه کول د مجاز ملکيت د ترلاسه کولو د اسبابو له لارې شريعت مشروع ګڼلي، له نامشروع لارې د مال ترلاسه کول حرم ګڼي،

غلا، رشوت، له حقه پرته د عامه مالونو تصاحب، غصب، په امانت کې خیانت جرم او مرتکب یې د سزا وړ ګڼي.

د پورتني مقاصدو پر بنسټ اړین ده چې د یو اسلامي هېواد په کچه اساسي قانون وجود ولري چې په هغه قانون کې د اسلامي شریعت مقاصد په کلي او فرعي ډول ورکي خوندي شي.

دغو پنځو مقصدونو حفظ د دولت وجیبه او د وګړو ( اتباعو ) حق ګڼل کېږي او د هغو ساتل مصلحت ده لکه د افغانستان اساسي قوانینو کې چې د وګړو حقوق په یو ځانګړي فصل کې تنظیم شوي دي لکه د ژوندانه (حیات) حق، د آزادی حق، د کار حق، د تعلیم حق، د سفر حق او ورته داسې نور حقوق.

همدا راز ضرر لري کول لدغو پنځو مقصدونو نه مصلحت ده لکه څرنګه چې د افغانستان اساسي قوانینو په دغه مورد کې په کلي ډول احکام داسې بیانوي:

لسمه ماده د ۱۳۰۲ هـ ل کال ، شپږ ویشمته ماده د ۱۳۴۳ هــ ل ، ماده خلور ویشتمه د ۱۳۸۲ هـ ل کال اساسي قوانین داسې حکم کوي:

(آزادی د انسان طبعی حق ګڼي او دغه ګزادي محدودیت نه لری مګر د قانون پر بنسټ او همدا راز د انسان کرامت له تعرض نه مصؤون ګڼي).

دغه پورتنۍ قانوني قاعده د افغانستان په اساسي قوانینو کې د انسان د

آزادی حق پر بنسټ وضع شوی ده ځکه د انسان آزادی حفظ د قانون له محدودیت سره مصلحت ده او له دغه حق نه د ضرر دفع کول مصلحت دی، دغه قاعده له نورو د اساسي قانون قواعدو سره هم د وګړو د حقوقو د تحفظ لپاره ارتباط لري لکه دا قاعده چې:

(هیڅ یو عمل جرم نه ګڼل کیږي خو دهغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب دمخه نافذ شوی وي )

دغه قاعده په لسمه ماده د ۱۳۰۲ هـ ل کال د اساسی نظامنامه کې، په شپږویشمته ماده د ۱۳۴۳ هـ ل کال اساسي قانون کې او په اوویشتمه ماده د ۱۳۸۲ هـ ل کال اساسي کې ذکر شوی ده.

## ۲- وضعي قوانین:

وضعي قوانین په هیوادونو او ټولنو کې اوس مهال رواج دي، دې توپیر سره چې په الهي قوانینو باندې ناباوره هیوادونو کې دغه ډول قوانین د انسان په کوشش جوړ شوي دي، انسانان د خپل کمزوري درک په مرسته دغسې قوانین د پارلمانونو په واسطه وضعه کوي، له همدې مخې دغسې قوانین وضعي یعنې د بشر له خوا جوړ شوي او وضعه شوي قوانین نومیږي، که څه هم په ځینو اسلامي هیوادونو کې وضعي قوانین د انفاذ لپاره د اسلامي شریعت د احکامو په پام کې نیولو سره وضعه

کېږي او وضعي قوانين د الهي احکامو (اسلامي شريعت) مخالف نه شي کېدای، لکه څرنګه چې په افغانستان کې د اساسي قانون (۳) ماده دغه اصل تصريح کوي، نو کله چې د قوانينو منبع اسلامی شريعت وی او د اسلامي شريعت له باورونو او احکامو سره مخالف قانون نه شی وضع کېدلی دا جوته کېږي چې په افغاني ټولنه کې وضعی قانون چې د انسان فکر نه جوړ شوی وي نشته ټول قوانين له اسلامی شريعت له هغو منابعو نه سرچينه اخلي چې مخکې مو د هغو ذکر وکړو او په افغانستان کې قوانين مدون نومېدلي شي چې له اسلامي بېلابېلو فقهي کتابونو را نقل او په قانون کې تدوين شوي دي.

د بحث په دې برخه کې دا لازمه بولم، ترڅو تقنيني اسناد په بېل مطلب کې په تفصيل سره معرفي کړم.


## دويم مطلب: په افغانستان کې د تقنيني اسنادو ډولونه او د هغو تعريف:

تقنيني اسناد په مختلفو ډولونو وېشل کېږي، البته د خپل قوت په نظر کې نيولو سره په تقنيني اسنادو کې قانون ډېر پياوړی سند ګڼل کېږي. په قوانينو کې هم اساسي قانون له ټولو غوره او پياوړی دی.

تقنيني اسناد د تقنيني اسنادو د طی مراحل د قانون د (۳) مادې د (۱) فقرې د حکم په ترڅ کې داسې معرفي شوي دي:

(تقنيني اسناد قانون، تقنيني فرمان، مقرره، اساسنامه او په هغو کې تعديل، ايزاد، حذف، الغا، تعليق، ضميمه او د حکومت هغه مصوبه ده، چې تقنيني صبغه ولري).

د پورتنۍ مادې د حکم پربنسټ تقنيني اسناد په لاندېني چارټ کې لومړی معرفي او ورپسې د هر يو په تفصيل لاس پورې کېږي:




## لومړی: قانون:

قانون هغه ډېر مهم تقنیني سند دی، چې نور راتلونکي تقنیني اسناد ترې سرچینه اخلي، دغه تقنیني سند ته ټولې ټولنې اړتیا لري، ترڅو د هغه له مخې د یو بل پر وړاندې او یا د ټولنې پر وړاندې د خپلو اتباعو حقوق او مکلفیتونه تنظیم کړي، د آفاقي حقوقو ټولې څانګې، په تقنیني برخو کې د ټولنو لپاره مشخص قوانین لري، د خپل بحث په دې برخه کې دا

لازمه ګڼو، ترڅو لاندیني موارد د قانون په برخه کې معرفي کړو:

### ١ - د قانون تعریف:

قانون لاتیني کلمه ده، چې اصل يې کانون دی او د عربي ژبې په ګرامر کې په قانون معرب شوی، چې په پښتو او دري ژبو کې له عربي ژبې څخه اقتباس شوی دی او د خط کش او مقیاس په معنا کارول کېږي.[١٧]

قانون په اصطلاح کې: د هغو کلي الزامي حقوقي قواعدو له ټولګې څخه عبارت ده، چې له اجرایي ضمانت سره غبرګ د واکمنې قوې له خوا د ټولنې د نظم د تنظیم لپاره وضعه کېږي.

### ٢ - په افغانستان کې د قانون سرچینې:

د افغانستان د اساسي قوانینو د دغې مادې په نظر کې نیولو سره چې په افغانستان هېڅ قانون د اسلامي شریعت مخالف نه شي نافذېدای، د تقنیني اسنادو د طی مراحل قانون د خپلې (١٦) مادې په ترڅ کې د تقنیني اسنادو سرچینې داسې تصریح کوي:

(د دغه قانون د څوارلسمې مادې مندرج کمېسونونه او انستیتیوت

[١٧] - فرهنګ معین.

مکلف دي، چې د تقنیني سند د ابتدایي طرحې د تسوید کار له لاندینیو سرچینو څخه په ګټه پیل کړي:

۱ . اسلامي شریعت؛

۲ . اساسي قانون؛

۳ . نافذ تقنیني اسناد؛

۴ . د هېواد د سیاست اساسي کرښې؛

۵ . نړیوال تړونونه او معاهدات چې افغانستان ورسره الحاق شوی دی؛

٦ . د نورو هېوادونو مشابه تقنیني اسناد؛

۷ . د تېولنې سالم عرف؛

۸ . په پام وړ موضوع کې د علمي او څېړنیزو مراجعو د متخصصینو او څېړونکو خپاره شوي نظریات او وړاندیزونه؛

۹ . نورې سرچینې.[۱۸]


پورتني موارد یو په بل پسې هر یو په افغانستان کې د مدونو قوانینو د مصدرونو او سرچینو په توګه ګڼل کېږي، د وروستیو سرچینو هر یوه له

[۱۸] - د تقنیني اسنادو د طی مراحل قانون، (۱۶) ماده.

مخکینیو څخه پیروي کوي، یعنې پورتني موارد د قوت له مخې په ترتیب سره په افغانستان کې د قوانینو د تدوین مصادر او منابع ګرځېدای شي. دې توضیح سره چې اساسي قانون، نور قوانین، نړیوال تړونونه چې افغانستان ورسره الحاق شوی دی، د ټولنې عرف د لومړنۍ سرچینې چې د اسلامي شریعت له احکامو څخه عبارت ده، مغایر نه شي کېدای او همدارنګه فرعي قوانین د اساسي قانون مخالف نه شي کېدای.

### ۳ - قوانین او ډولونه یې:

قوانین د اصل او فرع له نظره یا د موضوع له نظره په مختلفو ډولونو وېشل کېږي، چې په لاندیني چارټ کې معرفي او وروسته هر یو توضیح او تفصیل یې وړاندې کېږي.



### ا) اساسي قانون:

د اساسي قانون تعریف او ځانګړتیاوې مخکې ذکر شوې د هغه بحث په اضافه، اساسي قانون د ام القوانین (د قوانینو د مور) په نوم هم یادیږي، ځکه نور قوانین له هغه نه منشا او سرچینه اخلي، وړاندې مو د افغانستان د قوانینو په تاریخي سیر کې په دې اړه بحث وکړ، چې اوه اساسي قوانین د مدونو قوانینو د پیدایښت له پیله په افغانستان کې په مختلفو دورو کې تر اوسه پورې نافذ شوي دي.

### ب) فرعي قوانین:

له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې له اساسي قانون څخه وروسته په مختلفو برخو کې د ارګانیکو یا عادي قوانینو په شکل له تصویب او د هېواد د زعیم له توشیح وروسته په رسمي جریده کې خپاره او نافذیږي.

فرعي قوانین وړاندې په چارټ کې ښودل شوي او په ارګانیکو او عادي قوانینو وېشل کېږي، چې هر یو عبارت دی له:

### ۱- ارگانیک قوانین:

له هغو تقنيني اسنادو څخه عبارت دي، چې د يو ارگان لپاره د هغه د تشکيل او صلاحيتونو په برخه کې وضعه کېږي، په داسې حال کې چې د هغه قانون اصل په اساسي قانون کې صراحت ولري.

په پورتني عبارت کې دوو قيدونو ته اشاره شوې، چې دغه دوه قيدونه ارگانيک قوانين له نورو قوانينو څخه د يو بل په گډون رامنځته کوي، دغه دوه قيدونه عبارت دي له (د ارگان لپاره وضعه شوي وي او اصل يې په اساسي قانون کې) موجود وي، که چېرې دغه دوه ياد قيدونو او شرطونه په قوانينو کې پيدا کړو، بيا دغه قوانين د ارگانيکو قوانينو په نوم يادېږي، لکه د قضايه قوې د تشکيل او واک قانون چې د ۱۳۸۲ هـ ل اساسي قانون (۱۱٦) مادې د ياد قانون په اړه داسې صراحت لري: قضايه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی، قضايه له يوې سترې محکمې، د استيناف له محکمو او ابتدايه محکمو څخه جوړه ده، چې تشکيلات او واکونه يې د قانون له لارې تنظيمېږي.

په دې برخه کې د اساسي قانون (۱۲۳) ماده کال ۱۳۸۲ هـ ل دا تصريح کوي:

(د دې اساسي قانون د حکمونو په رعايت د محکمو په تشکيل،

صلاحیت او اجراأتو پورې مربوط قواعد او په قاضیانو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي).

د یادې مادې په تصریح کې په وضاحت سره دوه شرطونه لیدل کېږي، قضایه قوه یې د ارګان په توګه معرفي کړې او تصریح کوي، چې د دغه ارګان تشکیلات او واکونه د قانون په واسطه تنظیمېږي او دا هماغه د قضایه قوې د تشکیل او واک ارګانیک قانون دی.

## له عادي قوانینو سره د ارګانیکو قوانینو د بېلېدو لامل:

ارګانیک قوانین لکه څرنګه چې له خپل نومه ښکاري، د ارګان د تشکیل او صلاحیت لپاره وضعه کېږي او د دغه ډول قوانینو د تفکیک لامل په لومړي قدم کې همدغه لامل دی، چې یاد شو، وروسته دغسې قوانین له اساسي قانون څخه وروسته د نورو فرعي قوانینو په نسبت د خپل ځواک له مخې وړاندې دي، دې توضیح سره که چېرې د ارګانیکو قوانینو او عادي قوانینو ترمنځ تضاد رامنځته شي، نو د عادي قوانینو په نسبت ارګانیکو قوانینو ته ارجحیت ورکول کېږي.

### ۲- عادي قوانین:

عادي قوانین له هغه تقنیني سندونو څخه عبارت دي، چې د متني حقوقي قواعدو مختلفې برخې تنظیموي او یا د حقوقي قواعدو او معیارونو په واسطه د محاکماتي او اداري پروسو شکلیات جوړوي.

د پورتنۍ محتوا له مخې عادي قوانین په متني او شکلي قوانینو وېشل کېږي، چې هر یو په لاندې ډول معرفي کېږي:

### ۳- متني قوانین:

له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې د حقوقي متني قواعدو ټولګه یې په ځان کې ځای کړې او د ټولنې د نظم تنظیموونکي دي.

د پورتني متن پربنسټ د داخلي (ملي) آفاقي حقوقو ډېرو څانګو په عام ډول عمومي او خصوصي څانګو حقوقي متني قواعد په ځان کې ځای کړي دي، د عمومي حقوقو په برخه کې لکه د جزا قانون، پر عایداتو د مالیاتو قانون او د خصوصي حقوقو په برخه کې مدني قانون له خپلو څلورو برخو (کورنۍ، عیني، وجایبو او میراث) سره په متني قوانینو کې د متني قواعدو تنظیموونکي ګڼل کېږي.

## ٤- شکلي قوانین:

له هغو تقنیني اسنادو څخه عبارت دي، چې د حقوقي شکلي قواعدو ټولګه یې په ځان کې ځای کړې او د محاکماتي او اداري پروسو شکلیات تنظیموي.

د پورتني متن پربنسټ په دې برخه کې هغه قوانین داخلېږي، چې د محاکماتي یا اداري پروسو د شکلیاتو بنسټ ږدي، لکه د مدني محاکماتو د اصولو قانون د مدني دعوو لپاره د مدني محاکماتو د پروسې د شکلیاتو حقوقي قواعد وضعه کوي، د سوداګریزو محاکماتو د اصولو قانون د سوداګریزو دعوو لپاره د سوداګریزو محاکماتو د پروسې د شکلیاتو حقوقي قواعد وضعه کوي او یا د جزایي اجراأتو قانون د جرمونو د کشف، تحقیق او محاکمې د پروسو د شکلیاتو لپاره حقوقي قواعد وضعه کوي.

په اداري برخو کې د اداري اجراأتو قانون په مثال کې راوړلای شو، چې له عامه ادارو څخه د اشخاصو د شکایت شکلیات د حقوقي قواعدو له مخې طی مراحل کوي.

### د متني او شکلي قوانینو د وېش لامل:

عادي قوانین په دوو ډولونو متني او شکلي ولې وېشل شوي دي، په

ځواب کې ویل کېږي، چې لامل یې د دغو قوانینو ځانګړتیاوې دي، متني قوانین نامتحرک او ساکن دي، یوازې فرمان صادروي، لکه د جزا کوډ (د جزا قانون) دا بیانوي، چې غلا جرم دی او مرتکب یې د متوسط حبس د مجازاتو وړ دی، یا په مدني قوانینو کې دا د مېړه وجیبه ده، ترڅو خپلې مېرمنې ته نفقه ورکړي او دغسې نور احکام په متني قوانینو کې شتون لري، چې د تطبیق تحرک نه لري، یا په بل عبارت د دې لپاره چې د نافذه قوانینو مندرج حقوقي قواعد د اجرایي ضمانت ځانګړتیا ترلاسه کړي او مؤیدات یې تطبیقي جنبه پیدا کړي، شکلي قواعد د قواعدو د تطبیق په برخه کې چې په متني قوانینو کې تسجیل شوي، د هغو مرسته کوي، دا شکلي قوانین دي، چې متني قوانین په عملي برخه کې تطبیقوي، لکه یاد مثالونه که بیان کړو، نو د جزا قانون غلا جرم ګڼي، په داسې حال کې چې د جزایي اجراأتو قانون غل پیدا او له هغه یې تحقیق کړی، له اثبات څخه وروسته یې د خپلو قواعدو له مخې د محاکمې په خاطر محکمې ته دعوه اقامه کړې او محکمه د شکلي حقوقي قواعدو له مخې غل محاکمه او د هغه د مجازاتو پربنسټ پرېکړه صادروي.

### دویم: تقنیني فرمانونه:

تقنیني فرمانونه د هغو الزامي حقوقي قواعدو ټولګه ده، چې د افغانستان پخواني اساسي قوانینو د شورا د رخصتی پر مهال د عاجلو مسایلو لپاره حکومت ته دا واک ورکړي وه ترڅو په دغه حالت کې تقنیني فرمانونه صادر کړي چې د قانون حیثیت لری.

### درېیم: مقررې:

مقره د تقنیني اسنادو له ډلې څخه د قوانینو فرع ګڼل کېږي، چې د تقنیني اسنادو د طی مراحل په قانون کې داسې تعریف شوې ده:

### د مقررې تعریف:

د هغو الزامي حقوقي قواعدو ټولګه ده، چې د هېواد د سیاست د بنسټیزو کرښو د تطبیق، د قانون د احکامو د غوره تطبیق او د وزارتونو او دولتي ادارو د دندو د تنظیم په موخه د حکومت له خوا وضعه شوې وي.[۱۹]

مقررې له هغو حقوقي قواعدو څخه جوړې دي، چې په اداري، مالي، قضایي او نورو برخو کې د الزامي ځانګړتیا په خاطر وضعه کېږي، د

---

[۱۹] - د تقنیني اسنادو د طی مراحل قانون، (۳) ماده (۵) فقره.

مقررې اساس قانون ورکوي، يعنې د قانون فرع ده، کوم احکام چې په قانون کې په مجمل او کلي شکل وضعه شوي وي، نو د تطبيق لپاره د قانون د حکم د مسايلو او تفصيلي طريقې د وضعې په خاطر مقررې وضعه کېږي.

مقرره چې د خپلې برخې د قانون فرعه ده، داسې تنظيمېږي، چې د قانون د کلي حکم د تطبيق په خاطر پوره فروعات او توضيحات برابروي، لکه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون د خپلې (۱۳) مادې د (۵) جز په ترخ کې تصريح کوي: له همکارانو او مراجعينو سره دې نېک چلند وشي. دا چې د قانون دغه کلي حکم څرنګه تطبيق شي، نو هغې مقررې ته اړتيا ليدل کېږي، چې په دې اړه تفصيلي احکام توضيح کوي، په همدې خاطر د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د سلوک د طريقې مقرره وضعه شوې ده، چې په دغې مقره کې د کارکوونکو د سلوکي (اخلاقو) تفصيلي احکام توضيح او بحث پرې شوی دی.

يا د ديپلوماتيکو کارکوونکو د ټاکلو او ګومارلو په اړه چې يوه برخه يې د افغانستان په سياسي نماينده ګيو کې له پولو بهر د هېواد د سياست د اساسي کرښو رانغاړونکې ده، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د روح پربنسټ د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د احکامو تر شرايطو او د ديپلوماتيکو کارکوونکو د ټاکلو په تړاو تر ځانګړو شرايطو لاندې د

ديپلوماتيکو کارکوونکو مقرره وضعه شوې ده.

## څلورم: اساسنامې:

اساسنامه هغه تقنيني سند دی، چې په عامه سکتور او ادارو کې وضعه کېږي، د عامه سکتور د ټکي يادول په دې موخه دي، کومې اساسنامې چې په خصوصي سکتور کې وضعه کېږي، لکه خصوصي نادولتي سوداګريزو شرکتونو، ټولنيزو سازمانونو او سياسي سازمانونو کې، هغه اساسنامې زموږ د بحث موضوع نه جوړوي، يوازې هغه اساسنامې د تقنيني اسنادو په لېست کې درج دي، چې د عامه سکتور لپاره وضعه کېږي، لکه د برېښنا شرکت اساسنامه، د حسابدارۍ د چارو د انستيتيوت اساسنامه.

پر همدې بنسټ د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون اساسنامه داسې تعريفوي:

## د اساسنامې تعريف:

د هغو الزامي حقوقي قواعدو ټولګه ده، چې د علمي، څېړنيزو بنسټونو، وزارتونو، دولتي ادارو، دولتي او مختلطو تصديو او شرکتونو د تشکيل، دندو او واکونو د اړوندو چارو د تنظيم په موخه د حکومت له خوا

وضعه شوې وي.

د پورتني تعریف پربنسټ اساسنامه د مقررې په ردیف کې ځای لري، اساسنامې د مقررو په څېر حکومت (کابینه) تصویبوي او د ولسمشر له خوا توشیح بیا په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذېږي.


## پنځم: د کابینې مصوبې چې تقنیني جنبه ولري:

ځینې وخت د دولت کابینه چې له وزیرانو څخه جوړه شوې ده، داسې تصمیمونه نیسي، چې تقنیني حیثیت لري، د درجه بندۍ له نظره دغه ډول تقنیني سند د مقررې په څېر دی، تصمیمونه په متفرق شکل د تقنیني اسنادو په څېر د کابینې په مصوباتو کې درج شوي او د ولسمشر له لاسلیک څخه وروسته د خپلو موضوعاتو په اړه د تقنیني سند حیثیت ترلاسه کوي.

## - د تقنیني اسنادو طی مراحل

قوانین په ټولنو کې په خپل سر نه رامنځته کېږي؛ بلکې یو لړ پړاوونه تر خپل انفاذ پورې طی کوي، دا چې قانون د ټولنې د نظم لپاره یو معتبر تقنیني سند ګڼل کېږي، نو کوم پړاوونه چې طی کوي، د افغانستان د حقوقي سیستم له نظره د تقنیني اسنادو د طی مراحل د قانون د (۳)

مادې د (۱۴) فقرې د حکم په ترڅ کې داسې معرفي کېږي: طی مراحل تسوید، تدقیق، تائید، تصویب، توشیح او په رسمي جریده کې د تقنیني سند نشر دی. چې په لاندیني چارټ کې په واضح شکل معرفي کېږي:




**تسوید:** په لغت کې د مخکې لیکلو (پیش نویس) په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې د تقنیني سند د طرحې له لیکلو څخه عبارت دی.[۲۰]

**تدقیق:** په لغت کې د ارزولو په معنا کارول کېږي.

[۲۰] - د تقنیني اسنادو د طی مراحل قانون، (۳) ماده (۱۵) فقره.

او په اصطلاح کې: د شکل او محتوا له نظره د تقنيني سند د ابتدايي طرحې د اصطلاحاتو، کلمو، عبارتونو، جملو او احکامو له ارزونې او د اسلامي شريعت له احکامو سره د هغه له نه مخالفت او د افغانستان له اساسي قانون، نورو نافذو قوانينو، نړيوالو تړونونو او معاهدو او د ټولنې سالم عرف سره د هغه له سمون څخه له ډاډه کېدو عبارت دی.[21]

**تائيد:** په لغت کې د سم ګڼلو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: له هغه تصميم څخه عبارت دی، چې د احوالو له مخې د تقنيني سند د راتلونکي طی مراحل د لزوم په اړه د قوانينو د کمېټې يا حکومت له خوا نيول کېږي.[22]

**تصويب:** په لغت کې د تائيدولو او منلو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: له هغه تصميم څخه عبارت دی، چې د باصلاحيته مرجع له خوا د تقنيني سند د طرحې د تائيد يا رد په اړه نيول کېږي.[23]

---

[21] - د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون (۳) ماده (۱۶) فقره.

[22] - پورتنۍ مرجع، (۳) ماده (۱۷) فقره.

[23] - پورتنبش(۳) ماده (۱۸) فقره.

د اساسي قانون او نورو قوانين ترمنځ په دغه مرحله کې توپير شته پخواني دېرى اساسي قوانين په افغانستان کې د لويه جرگې له خوا تصويبږي او نور فرعي قوانين د شورا له خوا تصويبږي.

**توشيح:** په لغت کې د منلو وړ گرځېدو، لاسليکولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: د فرمان په ذريعه د ولسمشر له سم گنلو (لاسليک) څخه عبارت دى، چې د قانون د انفاذ په موخه تقنيني فرمان او تعديل، ايزاد، حذف، الغا، تعليق او ضميمه په کې صادر شوي وي.[٢٤]

**نشر:** په لغت کې د خپرولو، تيتولو، اشاعه کولو او چاپولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: په رسمي جريده کې د خلکو د خبرتيا په خاطر د تقنيني سند له چاپ او د هغه له خپرولو څخه عبارت دى.

د تقنيني سند په خپرولو کې موخه د دغې قاعدې (د قانون له احکامو څخه ناخبري عذر نه گڼل کېږي) تطبيق دى، دولت مکلف دى، چې په لومړي قدم کې هغه قوانين چې وضعه کوي يې، په رسمي جريده کې

[٢٤] - پورتنۍ مرجع، (٣) ماده (١٩) فقره.

خپاره کړي او د رسنیو له لارې یې نورو ته ورسوي، ترڅو یاده قاعده د عذر په توګه ونه ګڼل شي.

**انفاذ:** په لغت کې د فرمان او لاربښوونې د اجراکولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې د تقنیني سند د احکامو له لازم الاجرا کېدو څخه عبارت دی.

**مهلت:** په لغت کې د وخت ورکولو او ځنډولو په معنا کارول کېږي.

او په اصطلاح کې: د تقنیني سند د تطبیق په خاطر د هغه د انفاذ لپاره د ټاکلي وخت له مهلت ورکولو څخه عبارت دی.

دغه پړاو په ټولو تقنیني اسنادو کې شرط نه ګڼل کېږي، په ځینو جزایي قوانینو کې رعایت کېږي، دلیل یې دا دی، چې خلک په جرمي کړنو کې د قانون له خطاب څخه لومړی خبر شي، لکه څرنګه چې د جزا کوډ او د جزایي اجراأتو قانون له دغې قاعدې څخه پیروي کړې ده.

## دریيم مبحث

## د افغانستان د اساسي قوانینو د ځینو مادو تاصیل په اسلامي شریعت کې

دغه بحث له دې کبله ذکروم چې دا ثابته شي د افغانستان دېرى اساسي قوانین لکه ۱۳۰۲ کال اساسي نظامنامه چې د افغانستان د اساسي حقوقو بنستې اینبې ده او د افغانستان د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون چې د معاصر اساسي حقوقو تجددیې په افغانستان کې رامنځته کړلو او د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون چې په استثنا د شاه د فصل دېرى احکامي له ۱۳۴۳ کال اساسي قانون نه په متابعت ذکر شوى وه په دغو دریو اساسي قوانینو کې د هغو ځیني مادې د اسلامي شریعت له احکامو سره په دغه بحث کې تاصیلوم.

البته د یادوني وړ بولم چې ځیني مادې د قوانینو په افغانستان کې نیغه په نیغه (په مستقیم ډول) له قران او سنت نه تاصیل شوي او ځینې مادي د فقهي قواعد پر بنسټ د مجتهدینو د استنباط پر بنسټ په قوانینو کې تصریح شوي دي.

لومړی باید یاده کړم چې د تاصیل هدف په مدونو قوانینو کې څه ده؟ د دغه سوال ځواب داد ده چې تاصیل مفهوم او هدف د قانونی مادی اصل د اسلامي شریعت په سرچینو کې پیدا کول او ذکرول دی، په دغه بنسټ لاندې ځیني د اساسي قانون احکام د اسلامي شریعت له احکامو سره په تاصیل ذکروم:

## لومړی مطلب: د مدونو قوانینو سرچینی تاصیل:

څلور شپیتمه ماده اساسي قانون کال ۱۳۴۳ هـ ل او درېیمه ماده اساسی قانون کال ۱۳۸۲ هـ ل د مدنو قوانینو سرچینه په افغانستان کې داسې تصریح کوي:

(په افغانستان کې هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي)

دغه پورتنې مادې د اسلامي شرعیت له لومړنې سرچینه تاصیل شوی ده الله تبارک و تعالی فرمايي:

(( إن الحکم إلا لله))[۲۵] یوازینی حکم فرمايي د الله ده.

همدا راز په افغانستان کې د تقنین مدون کېدو نه مخکې فقهي معتبرې فتاواوې د حکومتوالۍ په برخه کې د ګټې اخیستنې وړ وي، له څرنګه چې د تاریخ په پاڼو د احمد شاه بابا په وخت کې ذکر شوی ده چې په

[۲۵] - سوره یوسف/ ۴۰ آیت.

هغه زمانه کې یو معتبر د حنفي فقهې فتاوا د فتاوای احمد شاهي تر عنوان لاندې تدوین شوی وه، چې وروسته له مدون کېدو د تقنین نه په ۱۳۰۲ هـ ل کال کې د مدونو قوانین لړۍ شروع شوه چې قوانین د حنفي فقهي له معتبرو فتاواو نه په تقنیني اسنادو کې ترتیب او تنظیم شوي، چې کولای شو د تمسک القضات امانیه او نور پنځوس نظامنامو یادونه وکړو چې په بېلابېلو برخو کې نافذې شولې، تر ۱۳۵۵ هـ ل کاله پورې د افغانستان مدون تقنین له یوو فقهي مکتب (حنفي فقه) نه پیروي کوله خو وروسته له دغه کال نه د افغانستان تقنیني اسنادو له نورو فقهي مکتبونو نه هم په ګټې اخیستنې سره قوانین تنظیم کړل چې د افغانستان مدنی قانونې یوه بېلګه بلل کېږي.

په لنډه توګه باید ذکر شي چې د افغانستان حقوقي سېستم د اسلام سپېڅلي دین حقوقي سېستم ده له همدې کبله د اسلامي دین د معتقداتو او احکامو مخالف قوانین د افغانستان په اساسې قوانینو کې مردود بلل شوي دي.

د دوه ذکر شوي اساسي قوانینو پورتني حکم د صراحت پر بنسټ اصل او کلي قاعده ګڼل کېږي څکه هېڅ ماده د اساسي قانون او فرعي قوانینو د دغه اصل مخالفت نه شي کولای.

همدا راز د قوانینو د تفسیر په قواعدو کې د اصول فقه د قواعدو پر بنسټ چې پر معنا د لفظ دلالت دی د واضح دلالت قسم چې د ظاهر، نص، مفسر او په محکم سره بېلیږي.

په پورتنیو اقسامو کې د اساسي قانون درېیمه ماده د محکم نوع د قانونی تفسیر په قواعدو کې په لاندې ډول کېڼل کېږي:

محکم: له هغه لفظ څخه عبارت دی، چې صیغه یې د هغه پر معنا واضح دلالت کوي، چې د تاویل، تخصیص او د معنا د نسخې احتمال په کې نه شته.[٢٦]

د محکم د تعریف پر بنسټ د اساسي قوانینو دغه ماده چې:

( په افغانستان کې هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي).

د قانون دغه حکم محکم دی، ځکه نه د تاویل احتمال لري او نه هم د تخصیص او نسخې احتمال په کې شته، نو هر هغه قانون چې د اسلامي معتقداتو مخالف وضعه شي، که څه هم د هغه لپاره قانون جوړونکی د قانون په متن کې د مشروعیت تاویل ورکړي، چې په دې دلیل فلانی قانون د اوسني عصر اړتیا ده، یا په بل عبارت د قانون د مدون قانون اړتیا ده نو دغه د اساسي قانون ماده د متن د تاویل په خاطر نړیوالو مراودو ته توضیح شي، چې دا ایجابوي، ترڅو د شریعت خلاف دغسې قانون وضعه شي، یا دغسې نور تاویلات جایز نه دي او په دې برخه کې ناسم تفسیر ممنوع دی، ځکه د اساسي قانون دغه ماده د محکم اصل په

٢٦ - اصول سرخسي، ١ج، ١٦٥ مخ.

توگه قاعده وضعه کړې ده، چې دغه قاعده په هېڅ صورت د تاويل، تخصيص او نسخې احتمال نه لري، که چېرې د هغه مخالف هر قانون وضعه شي، مردود او د لغوې وړ گڼل کېږي.

د قانون په تفسير کې د ظاهر، نص، مفسر او محکم که چېرې د قانون په متن کې د دغو واضح الدلالة ډولونو ترمنځ ټکر رامنځته شي، د قانون د متن د تفسير په اصولو کې يو پر بل ارجحيت لري، په دې توضيح سره چې هرکله د قانون په متن کې ظاهر او نص په خپل منځ کې په ټکر کې واقع شي، د قانون د نص (متن) د قانون د ظاهر متن په نسبت ارجحيت او قوت لري، ځکه د قانون د نص د متن دلالت د قانون د ظاهر د متن په نسبت ډېر واضح دی او هرکله چې د قانون د نص متن او د قانون د مفسر متن له يو بل سره په ټکر کې راشي، د قانون د مفسر متن د قانون د نص پر متن ارجحيت او قوت لري او محکم په دغو ټولو باندې ارجحيت او قوت لري، دې توضيح سره دا چې د اساسي قانون دغه ماده چې هېڅ قانون مخالف د اسلامي شريعت او معتقداتو په افغانستان کې نه شي وضع کېدالي. محکم دی نو د قانون د ظاهر، نص او مفسر متون که چېرې د اساسي قانون له دغې مادې له متن سره په ټکر کې راشي، مردود او متروک دی، د لفظ د دلالت په تفسير کې د اساسي قانون دغې مادې ته د نورو ټولو تقنيني اسنادو په نسبت ارجحيت

ورکول کېږي.

د پورتنيو توضيحاتو پر بنسټ د افغانستان د اساسي قوانينو دا حکم چې: په افغانستان کې هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي دغه حکم په مستقيم ډول د الله له حکم نه (( إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ))[٢٧] يوازينی حکم فرمايي د الله ده. تاصيل شوی ده او همدا راز د قوانينو په حکمونو کې د اصول فقه د قواعدو پر بنسټ محکم ده هر هغه حکم مخالف د دغه حکم مردود ده.

## دويم مطلب: د اتباعو د اساسي حقوقو تاصيل:

د وګړو ( اتباعو) اساسي حقوق د معاصر اساسي قوانينو يو خصوصيت ده چې مخکې د هغه ذکر وشو، د افغانستان ټولو اساسي قوانينو په دغه برخه کې په ځانګړيو مادو او فصلونو کې احکام تنظيم او تصريح کړي دي چې دغه حقوق له اسلامي شريعت نه په ګټې اخيستنې او سرچينې سره د افغانستان په اساسي قوانينو کې را منعکس شوي دي چې په دغه برخه کې ځينې مادې د دريو اساسي قوانينو لکه د ١٣٠٢ – ١٣٤٣ – ١٣٨٢ هـ ل کالونو به له اسلامي شريعت سره د دغه بحث په ادامې سره مقارنه او تاصيل کړم:

---

[٢٧] - سوره يوسف/ ٤٠ آيت.

## ۱- د افغانستان د وګړو د برابرۍ ( مساواتو) حقوقو تاصیل:

د افغانستان وګړي د افغانستان په اساسي قوانینو کې پرته له جنس، تبر، دین او مذهب نه د قانون په مقابل کې د مساوي حقوقو درلودونکې بلل شوی دي چې د اساسي قوانینو مادو ته په دغه برخه کې په لاندې ډول اشاره کوم:

اتمه ماده، اساسي نظامنامه کال ۱۳۰۲ هـ ل:

(ټول تابعان د افغانستان په مخ د غرا شریعت او نظامنو د دولت او په وظیفو د وطن کښې، یو رنګ دي).

پنځه ویشتمه ماده اساسي قانون کال ۱۳۴۳ هـ ل:

(د افغانستان ټول خلک بی له هیڅ قسم تبعیض او امتیازه د قانون په وړاندي یو شان حقونه او وظیفی لری).

دوه ویشتمه ماده، اساسي قانون کال ۱۳۸۲ هـ ل:

(د افغانستان د اتباعو تر منځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی، د افغانستان اتباع ښځی او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري).

پورتني ذکر شوي د اساسي قوانینو مادې د اسلامي شریعت له لومړیو منابعو نه تاصیل او اخیستل شوی دی.

الله تبارک تعالی په دغه مورد کې فرمایي:

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ

شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّهِ أَتْقَاكُمْ إِنّ اللّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ) )[28]

اې خلکو مونږ تاسو له یو نارینه او ښځینه پیدا کړي یاست، او تاسو مو ملت ملت، قبیله قبیله ګرځولی یاست تر څو یو بل وپېژني، ستاسو په منځ کې مکرم او ارجمند ستاسو پرهېزګاره کس ده، بې له تردیده چې الله ډېر پوه او باخبره ده.

په پورتنی آیت کې الله تبارک و تعالی د تساوي اصل بیان کړي او فضیلت د یوې قبیلې پر بلې منتفی کړې ده چې د (لتعارفوا) په قید سره د هر شعبي او قبیلیې علت بیان کړي چې دغه تفریق د معرفت لپاره ده نه د برتري لپاره ولې په اسلام کې برتر په تقوا سره ده.

همدا راز د دغه آیات مطابق د الله رسول ﷺ نه حدیث هم روایت شوی ده چې هغه مبارک فرمایي:

((أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلَا أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلّا بِالتّقْوَى))[29] پوه شئ چې فضیلت د عربي په عجمي او نه د عجمي په عربي او نه د سره په تور او

[28] - الحجرات سورت، ۱۳ آیت.

[29] - رواه احمد في مسنده

نه د تور په سره شته مگر په تقوا سره.

له پورته شرعي نصوصو په ښکاره او واضح ډول استنباط کېږي چې اسلام د وګړو د حقوقو په اړه تفاضل او برتري د امتياز په ډول نه مني چې د افغانستان د اساسي قوانينو ذکر شوې مادې هم له همدغه شرعي اصولو نه پيروي سره دغه احکام بيان کړي دي.

## ۲- د افغانستان د وګړو د آزادۍ او کرامت حق تاصيل:

د افغانستان اساسي قوانينو د ازادی حق ته په کتو سره هغه د انسان تبعي حق بلل دي چې په لاندې ډول يې ذکر په اساسي قوانينو کې شوی ده:

لسمه ماده، اساسي نظامنامه کال ۱۳۰۲ هـ ل:

(خپل واکي او آزادی د هر سړی له هر قسمه خلل او مداخلې ځينې ساتل شوی ده، هيڅ څوک بی له حکمه د شرعي او قانوني نظامو څخه نه توقيف کېږي او نه جزا ورکوله کېږي، افغانستان کې اصول د بندی گرت بلکل موقوف او منع دی، هيڅ نارينه او ښځينه په قسم د بندی گرت بل څوک خدمتگار او نوکر ساتلی نه شي).

شپږويشتمه ماده، اساسی قانون کال ۱۳۴۳ هـ ل:

(آزادی د انسان خدای ورکړی حق دی، دا حق بيې د نورو له آزادۍ او عمومي ښېګړونه چه قانون ښودلي دي نورې پولې نه لري، د انسان آزادي او کرامت د بلوسې نه په امن دی او بیېلتون نه قبلوي....)

څلور ويشتمه ماده، اساسي قانون کال ۱۳۸۲ هـ ل:

(آزادي د انسان طبعي حق دی، دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظيمېږي حدود نه لري، د انسان آزادي او کرامت له تيري خوندي دی).

پورته ذکر شوې مادې د افغانستان د اساسي قوانينو د وګړو په دوو حقونو ولاړه دي:

ا) **د آزادۍ حق:** دغه حق يو طبعی حق ګنل شوی ده، ولې چې انسان په فطري لحاظ آزادي خوښه وي او دغه حق د انسان عندي حق دی.

په اسلامي شريعت کې د آزادی حق په بېلابېلو برخو کې د انسان لپاره ورکول شوې ده، اما دغه حق مطلق نه ده بلکه محدود ده لکه څنګه چې قانون دغه حق په محدوديت د قانون وګړو ته ورکړی، که چېرې د آزادۍ حق مطلق وي په ټولنه کې بې بندباري راځيي او د ټولنې نظم ته

صدمه وهل کیږي.

په قران کې ډېر احکام د آزادۍ په اړه په بېلابېلو مواردو کې ذکر شوي دي چې د اساسي قانون پورتني مواد ورنه تاصیلیږي له هغه جملې نه یو څو د کتاب الله احکامو ته اشاره کوم:

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ))[٣٠]

اې خلکو هغه څه چې په ځمکه کې حلال او پاک دي وخورئ او د شیطان نه پیروي مه کوئ هغه ستاسو روښانه دښمن ده.

پورته آیت د خوړو په اړه انسان د حلالو او پاکو خوړه په لپاره آزاد ګرځولي دي خو له هغه خوړلو نه یې منع کړي چې حرام او ناپاکه دي او د شیطان له پیروي نه یې هم انسان منع کړی ولې چې شیطان انسان په بدو کارونو مصروفوي.

((لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ))

[٣٠] - بقره سورت، ١٦٨ آیت.

د دین په قبولو کې اکراه نشته ولې چې درسته لار له منحرفې لارې روښانه شوې ده که څوک په طاغوت کافر وي او په خدای ایمان راوړي، هغه به په یو محکم دستګیر چنګ وهلی وي چې د هغه شکیدل به نه وي، الله چې ده اوریدونکی او پوه دی.

پورتنی آیت حکم دا دی چې د غیر مسلمان لپاره اکراه په دین کې نشته خوښه یې چې هر دین خوښوي خو الله ورته د حق ( اسلام ) او غیر حق ( کفر ) حقانیت روښانه کړی ده نو ځکه دی مخیر دی چې د حق (اسلام) لار انتخابوي او که د غیر حق (کفر) لار انتخابوي.

د عقیدې آزادي د انسان لپاره مخیره ده، البته د غیر مسلمان لپاره نه د مسلمان لپار ولې چې د مسلمان لپاره دا آزادي نشته چې غیر له اسلام نه بل دین ته واوړي.

د آزادۍ حق ډېر وسیع دی د ژوندانه په بېلابېلو اړخونو اسلام خپل احکام په نصوصو سره بیان کړي دي که هغه د شخصیه احوال په برخه کې وي لکه څنګه چې الله تبارک و تعالی فرمايي:

(( فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ

خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً ) )[31]

ستاسو لپاره ښه ده چې په نکاح کړي نورې ښځې دوه او درې او څلور، که چېرې ډاريدئ چې عدالت نه شئ کولای بيا نو يوه ښځه په نکاح کړي.

د پورته آيت حکم دا دی چې د عدالت په صورت کې مسلمان تر څلورو ښځو اختيار لري، په يو وخت کې له څلورو اضافه ورته اجاره نشته د مسلمان آزادي تر څلور ښخو ده چې په نکاح يې کړي او همدا راز د نه عدالت په صورت کې او حتی د نه عدالت د ډار او خوف په صورت کې چې عدالت به ونه شي کولای نو مسلمان ته له يوې ښځې اضافه په نکاح جايزه نه ده.

په نکاح کې مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په داسې حال کې چې شرعي موانع موجود نه وي مخير او آزاد دي.

همدا راز د آزادۍ حق  د عمر رضی الله عنه له يوو اثر سره هم ثابت شوی ده، دغه اثر له عمر رضی الله عنه نه داسې را نقل شوی چې:

(( عمرو بن العاص رضی الله عنه په مصر کې والي و، يو مصري قبطي

[31] - النساء سورت، ۳ آيت.

یې وهلی و او دا خبر عمر رضی الله چې د مسلمانانو خلیفه و ورسېد، عمر رضي الله عنه په عمرو بن العاص باندې د وهلو د قصاص حکم وکړ او یو مشهوره خبره یې ورته وکړله: له کله مو خلک غلامان کړي په داسې حال کې چې میندو یې ازاد زېږولي دي))

د ذکر شوي مادو تاصیل د عمر رضي الله عنه له پورته وینا هم استنباط کېدای شی.

**ب) د کرامت حق:** انسان اشرف مخلوقات، الله خلق کړی او د هغه لپاره یې ټول کاینات د هغه په تسخیر کې راوستي دي د انسان په کرامت هرقسم تجاوز منع دي او د هغه کرامت په اسلام کې محترم شمېرل شوی ده.

الله تبارک تعالی د انسان د کرامت په اړه فرمايي:

**(( وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ ))**[٣٢]

مونږ د آدم اولاد ته کرامت او لوړوالی ورکړی.

د اساسي قوانینو د انسان د کرامت حکم له پورته ذکر شوی آیت نه تاصیل شوی ده.

---

[٣٢] - اسراء سورت، ۷۰ آیت.

### ۳- د استوګنځي د محرمیت حق تاصیل:

د استوګني ځای او کورونه د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې محرم او هر قسم تعرض نه مصؤون ګڼل شوي دي، حتی دولت ته اجازه نشته د جرم په حالت کې پرته د استوګن له اجازې او یا واکداره محکمې د چا کور ته او استوکنځي ته دننه او یا هغه تفتیش کړي، د افغانستان اساسي قوانین داسې تصریح کوي:

شلمه ماده، اساسي نظامنامه کال ۱۳۰۲ هـ ل:

( کور او ځای د استوګنې، د ټولو رعیتو د افغانستان، له هر رازه لاس وهلو څخه سوکه ساتل دی، هیڅوک د پادشاه یا بل بې حکمه د نظامنامو د هیچا په کور بی اذنه د خاوند د کور نه سی ننوتای)

اته ویشمه ماده، اساسي قانون کال ۱۳۴۳ هـ ل:

( د هرچا ټاټوبی د بلوسې نه په امن دی، هېڅوک حتی دولت هم د اوسېدونکی د اجازې یا د یوې واکمنې محکمې له حکمه پرته او بې د هغو حالاتو اولارو چارو نه چې په قانون کې څرګند ښودل شوي دي د چا ټاټوبي ته ننوتلی او هغه لټولی نه شي، د څرګند جرم په وخت کې مسؤل مامور یو چا ټاټوبی ته د هغه یا د محکمې له مخکنۍ اجازې څخه په خپل مسؤلیت ننوتی شي او هغه لټولی شي خو دغه مامور په

دي مکلف دي چې د ور ننه‌وتلو یا لټولو نه په پس د قانون د خوا په ښودلې موده کې دننه د محکمې فیصله لاس ته راوړي)

اته دیرشمه ماده، اساسي قانون کال ۱۳۸۲ هـ ل:

( د شخص استوګنځی له تیري څخه خوندي دی، هېڅوک د دولت په ګډون نه شي کولای د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قراره پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي د چا کور ته ورننوزي یایئ وپلټي، د څرګند جرم په مورد کې مسؤل مامور کولای شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کورته ور ننوځي یا هغه وپلټي، نوموړی مامور مکلف دئ کورته له ننوتو یا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرار تر لاسه کړي)

یادې پورتنۍ مادې د الله تبارک او تعالی د وینا د شرعي اصل پر بنسټ ولاړ دی، الله تعالی فرمایي:

(يَأَيها الّذِينَ ءَامَنُوا لا تَدخُلُوا بُيُوتاً غَيرَ بُيُوتِكم حَتى تَستَأنِسوا وَ تُسلّمُوا عَلى أهلِهَا ذَلِكُم خَيرٌ لّكُم لَعَلّكُم تَذَكّرُونَ )[۳۳]

۳۳ - سورت النور، ۲۷ آیت.

اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، له خپلو کورونو څخه پرته د نورو کورونو ته مه ورننوځئ، تر هغو څو اجازه واخلئ او د هغه کور په وګړو سلام وکړئ، دا ستاسو لپاره غوره ده، شاید یادوونکي شئ.

پورتنی مبارک آیت د شخص کور له تېري څخه مصؤن ګڼي، اساسي قانون د اسلامي شریعت د حکم په پیروۍ هېڅا ان دولت ته د دې حق نه دی ورکړی، تر څو د شخص کور تفتیش یا تلاشي کړي.

همدا راز په دغه اړه له عمر رضی الله عنه نه یو اثر داسې روایت شوی ده:

(( د ثور الکندي رضی الله عنه څخه روایت دی چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه په مدینه منوره کې د شپې ګرځېدو چې په یوه کور کې یې د یوه سړي غږ واورېد، چې سندرې وایي نو عمر رضي الله عنه د دیوال له لارې کورته وردننه شو، او له هغه سړي سره یې یوه ښځه ولیده او شراب هم ورسره و عمر رضي الله عنه ورته وویل: اې د خدای دښمنه، ایا تا دا فکر کړی و چې خدای به ستا ستر وکړي، په داسې حال کې چې ته د هغه نافرماني کوي؟

هغه سړي ورته وویل اې امیرالمومنینه په ما بیړه مه کوه که ما یو ځل د خدای نافرماني کړې ده نو تا درې وارې د الله نافرماني کړې ده:

الله تبارک او تعالی فرمایي: (( وَلَا تَجَسَّسُوا )) تجسس مه کوي او

تا تجسس وکړلو.

الله تبارک او تعالی فرمايي:(( وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا ) ) ښه کار نه ده چې تاسو د خلکو کور ته د شا له خوا داخل شئ، په داسې حال کې چې ته زما کورته د شا له خوا پرته زما له اجازې داخل شوی يې.

الله تبارک او تعالی فرمايي: ((يَأَيهَا الّذِينَ ءَامَنُوا لا تَدخُلُوا بُيُوتاً غَيرَ بُيُوتِكم حَتى تَستَأنِسوا وَ تُسلِّمُوا عَلى أهلِهَا ذَلِكُم خَيرٌ لّكُم لَعَلّكُم تَذَكّرُونَ ) )[٣٤]

اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی ، له خپلو کورونو څخه پرته د نورو کورونو ته مه ورننوځئ، تر هغو څو اجازه واخلئ او د هغه کور په وګړو سلام وکړئ، دا ستاسو لپاره غوره ده، شايد يادوونکي شئ.

عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: ايا ستا لپاره کومه ګټه شته که زه تانه ښښنه وغواړم، که ته ماته ښښنه وکړې، هغه سړي ورته وويل هو په الله قسم يا امير المومنينه که چېرې ته ماته ښښنه وکړې زه به هېڅکله نور داسې کار

ونه کړم، د هغه ښښنه یې وکړه او له کورنه یې ووت.))[٣٥]

## ٤- د زدکړو (تعلیم) حق تاصیل:

زده کړې او تعلیم د افغانستان اساسي قوانینو کې د افغان وګړو نارینه وي او که ښځینه یو اساسي حق ګڼل شوی ده د افغانستان په لومړني اساسي قانون کې بیا تر وروستي اساسي قانون پوریېدغه حق بې له محدودیته رسمیت درلود چې لاندې هغه مادو ته اشاره کېږي:

څورلسمه ماده، اساسي نظامنامه کال ١٣٠٢ هـ ل:

( کار د تدریس او سبق ورکول، بالکل ازاد او خلاص دي، چې سم له نصابه سره د عمومي معارف هر یو له تابعانو د افغانستان ښځه په قسم د عمومي او خصوصي، درس ویلی شي، مګر بېګانه خلق، په داخل د افغانستان کې په خلاصول د مکتبو سره اجازه نه لري، غیر له هغو ځینو چې لپاره د تعلیم نوکران شوي وي)

څلور دیېرشمه ماده، اساسي قانون کال ١٣٤٣هـ ل:

( تعلیم د افغانستان د ټولو وګړو حق دی او د افغانستان د دولت او

---

٣٥ - اخرج الخرائط فی مکارم الاخلاق ص ٣٠٧ / المکتبة الشاملة الحدیثة / عباس محمود العقاد، العبقریات الإسلامیة ، ج١ ص ٥١٤

اتباعو له خوا وړیا برابریږي، په دې برخه کې د دولت هدف یوې داسې مرحلې ته رسېدل دي چې د افغانستان د ټولو وګړو د پاره به کې د قانون د حکمونو سره سم د روزنې او ښوونې مناسبې اسانتیاوې راغونډې شي، دولت مکلف دئ چې په ټول افغانستان کې د پوهنې د متوازن تعمیم لپاره موثر پرګرام وضع او تطبیق کړي، د ښوونې او روزنې لارښودنه او څارنه د دولت دنده ده، لومړنۍ ښودنې د ټولو ماشومانو د پاره په ځایونو کښې چې ویلی یې دو دولت له خوا برابرې شوې وي حتمي دي، د لوړ او عمومي تعلیم د موسسو جوړول او چلول یوازې د دولت حق او دنده ده، د دې نه ور اخوا د افغانستان اتباع حق لري چې اختصاصي یا د لیک لوست د ښودو د پاره ښوونځي جوړ کړي، د داسې ښوونځیو د جوړونې شرطونه، تعلیمی نصاب او په کې د زده کړې شرایط د قانون له پلوه ښودل کېږي، حکومت کولی شي چې د قانون د حکمونو سره سم خارجي کسانو ته د خصوصي ښونځیو د جوړولو اجازه ورکړي، د داسې ښوونځیو نه یوازې خارجي کسان فایده اخستی شي.)

دري څلویښتمه ماده، اساسي قانون کال ۱۳۸۲هـ ل:

(زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خوا تامینیږي، دولت مکلف دیځچې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د

تامین لپاره اغیزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي)

په پورتنیو موادو د افغانستان د اساسي قوانینو کې د تعلیم او تحصیل ارزښت ته په کتو سره دغه حق د افغانستان د وګړو لپاره رسمیت ورکړی ده، ځکه پخواني سیاسي زعامتونه په دې پوهېدل چې د افغانستان د ودې او پیشرفت لاره تعلیم ده.

دغه حق په شرعي صریحو نصوصو (قران او حدیث) کې په کراتو ذکر شوی ده، اسلامي شریعت خلک د علم د زده کړې په اړه هڅولي دي چې دغه پورتني د اساسي قانون مواد هم له هماغو شرعي نصوصو نه په استنباط سره دغه حق د افغانستان وګړو ته ورکړی ده.

الله تبارک و تعالی په لومړني ملکوتي وحې سره چې حضرت محمد ﷺ نازل شو داسې فرمایي:

((اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الّذِي عَلّمَ بِالْقَلَمِ عَلّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ))[٣٦]

و وایه ( اې محمد ﷺ) د خپل رب چې ډېر کریم دی او هغه کس ته

[٣٦] - العلق سورت، آیت ٣-٤- ٥.

علم د قلم په وسیله ور زده کړی ده، او انسان ته یې هغه څه ور زده کړل چې د هغه زده نوو

الله تبارک او تعالی فرمایي:

((يَرْفَعِ اللّهُ الّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ))[٣٧]

الله به ستاسو څخه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې پوهه ورکړل شوې ده درجې لوړوي.

عن أنس بن مالك قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:

((طلب العلم فريضة على كل مسلم))[٣٨]

د علم زده کړه په هر مسلمان فرض ده.

په ځینو د حدیثو متونو کې د احادیثو ( على كل مسلم و مسلمة) ذکر شوی ده خو هغه بیا ځینو محدیثونو د ( مسلمة ) کلمه ورسره ضعیفه بللی او تبصره یې کړې ده چې ذکر د مسلم ذکر مسلمة هم د بر نیسي یعنی په دغه مطلب چې علم په هر نارینه او ښځینه مسلماني فرض ده، لکه څرنګه چې امام ابن باز رحمه الله دغه ذکر په خپلو فتاواو کې کړي

[٣٧] - المجادلة سورت، آیت ١١.

[٣٨] - رواه ابن ماجه.

ده.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي اللّه تعالى عنه: أَنّ رَسُولَ اللّه ﷺ قَالَ : (( إِذَا مَاتَ ابنُ آدم انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلّا مِنْ ثَلَاثٍ: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أو عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ))** [39]

له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت ده چې د الله رسول فرمايلي دي: کله د آدم اولاد مړ شي د هغه عمل پرې کېږييمگر درې شيان نه پرې کيږي د هغه شيانو ثواب به وروسته له مرگه هم ور رسيږي، جارى صدقه ده، هغه علم ده چې خلک ورنه گټه اخلي او صالح اولاد ده چې ورته دعا کوي.

له پورته حديث نه ثابتيږي چې د علم ښيگڼه اسلامي شريعت دومره با ارزښته بللي چې حتى وروسته له مرگه د هغه علم ثواب مړي ته ور رسيږی تر څو چې خلک ورنه گټه اخلي.

د تعليم په هکله د اساسي قوانينو احکام له پورتني شرعي نصوص تاصيل شوی دي، چې د علم زدکړه پر مسلمان که هغه د دين علم وي او که د دنيا فرض ده، په دومره تفاوت سره چې د دنيا علم کفايي فرض ده او د مسلمانانو يو طايفه په ټولنه کې حتما بايد انجنيران او يا ډاکتران شي او يا داسې نور مسلکونه به انتخابوي، البته که چېرې په مسلمانه ټولنه

[39] - رواه مسلم.

کې تړول دنیوي علم په هر برخه کې ترک کړي او هغه علم په اسلامي تړلنه کې اړتیا وي دغه ترک د دنیوي علم ناروا ده او باید مسلمانان هغه زده کړي.

په دغه اړه شیخ ابن باز رحمه الله په خپلو فتاواو کې فرمايي:

(له شرعي علومو پرته نور علوم،یعنې د معدنیاتو استخراج، کرنې، او داسې نورو ګټورو علومو کې هغه څه چې مسلمانان ورته اړتیا لري، کفایي فرض ده).[٤٠]

[٤٠] - العلم الذي وردت الشريعة بمدحه هو العلم الشرعي - إسلام ويب - مركز الفتوى (islamweb.net)

## ماخذونه


١- قرانکریم؛

٢- ابن حنبل احمد، المسند امام احمد؛

٣- ابن ماجه، ابو عبدالله بن یزید ماجة قزوینی ربعی، سنن ابن ماجه؛

٤- أبوبکر، احمد بن الحسین بن علی بن موسی، سنن البیهقي؛

٥- السجستاني، ابوداود سلیمان بن الأشعث، سنن ابو داود؛

٦- مسلم، بن حجاج ابولحسن القشیری النیشاپوری، صحیح مسلم؛

٧- دکتور علی محمود حسین، مبادی الدستور الإسلامي الأساسیة، مجلة کلیة العلوم الإسلامیة شماره ( ٢/١٤ ) ج ٧ سال ١٤٣٤ هـ ق – ٢٠١٣ م ؛

٨- ابو زهرة محمد العلاقات الدولیة في الاسلام ؛

٩- إسلام ویب - مرکز الفتوی(islamweb.net) ؛

١٠- دکتور بشناق باسم صبحی، مجلة الجامعة الاسلامیة، ج ٢١ شماره ١، الفصل بین السلطات في النظام السیاسي الاسلامی – دراسة تحلیلیة في ضوء نظریة الفصل بین السلطات في القانون الوضعي؛

١١- دكتور زحيلى وهبه، العلاقات الدولية في الاسلامى ؛

١٢- دكتور زحيلى وهبه، فقه الاسلامى و ادلته؛

١٣- دكتور زيدان، عبدالكريم، اصول فقه اسلامى؛

١٤- السرخسى محمد، اصول السرخسى؛

١٥- الماوردي ابولحسن، الاحكام السلطانية ؛

١٦- ابويعلى، الاحكام السطانية؛

١٧- دراسة تحليلية في ضوء نظرية الفصل بين السلطات في القانون الوضعي؛

١٨- د افغانستان لوړ شاهی دولت نظامنامه كال ١٣٠٢ هـ ل؛

١٩- د افغانستان لوړ شاهی دولت اصولنامه كال ١٣١٠ هـ ل؛

٢٠- د افغانستان اساسي قانون كال ١٣٤٣ هـ ل؛

٢١- د افغانستان اساسي قانون كال ١٣٦٦هـ ل؛

٢٢- د افغانستان اساسي قانون كال ١٣٨٢ هـ ل؛

٢٣- د تقنيني اسنادو د طی مراحل قانون كال ١٣٩٧ هـ ل؛

٢٤- فرهنگ معين؛

٢٥- فرهنگ عميد.

| د مؤلف چاپ او نشر شوی کتابونه | | |
|---|---|---|
| شمیره | د کتاب نوم | د کتاب ژبه |
| ۱ | اصول محاکمات مدنی | دری - پښتو |
| ۲ | اصول محاکمات جزائی | دری |
| ۳ | اجراءات دعوای مدنی از دیدگاه فقه و قانون | دری - پښتو |
| ۴ | اصول اجراءات و محاکمات جزائی | دری – پښتو |
| ۵ | جرایم ناشی از فساد اداری | دری |
| ٦ | حقوق جزای اختصاصی جرایم فساد اداری مطابق کود جزاء | دری |
| ۷ | قواعد علم میراث، ترجمۀ السراجی في المیراث با مقارنۀ قانون مدنی و تحلیل مسایل آن؛ | دری – پښتو |
| ۸ | مبادی علم حقوق، کلیات قانونی در سیستم حقوقی افغانستان؛ | دری – پښتو |
| ۹ | عقد الوکالة و احکامه في الفقه الاسلامي والقوانین الافغانیة، تطبیقاته المعاصرة، دراسة، تحلیلیة، تطبیقیة، مقارنة؛ | عربی |
| ۱۰ | تنویر افکار در معاملات بانکداری اسلامی | دری |